>>همیشه سکوت د جانب مقابل د خبرو تایید نښه نه وي بلکي د جانب مقابل د شعور سطحي څخه د مایوسي او ناهیلي کیدو په معنی هم وي<<

# موږ او نړۍ

د استاد عبدالحمید جلیلي د فیسبوکي لیکنو ټولګه!!!

Ketabton.com

لیکوال : استاد عبدالحمید جلیلي

راټولونه او ترتیب: اجمل هیوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Table of Contents

د عزت جنازه :......4
مکمله تباهي: ......7
سکوت: ......7
استیو جابز: ......7
د سید قطب اعدام: ......9
با اصوله مومن: ......10
د خلکو خوله بندول: ......11
تقاعد : ......13
سرفروش: ......14
د عالم نصیحت: ......15
با وقاره ځوان: ......18
ونستن چرچل: ......20
د بزرگ مزار: ......21
د کورنی پوستکی ایستل: ......22
د فرعون جسد: ......26
فندوق: ......29
صرف پنځه ثانیي : ......32
فرانسوي ماډله : ......34
د قسطنطنیي فاتح : ......35
تاتاري شهزادگی : ......37
وچي دعاوي : ......39
رحمة العالمین: ......40
عزیزیه مدرسه : ......42
کافر جاپان مسلمان افغانستان : ......45
تر سبا به ژوندی یي : ......48
مطالعه به مو د سیالانو سیال کړي: ......49
اخلاقي اسلوب: ......50
ړوند عقیدت: ......51

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خبرې:

د لوی او ښوونکي څښتن تعالی په نوم !!!

کله به مي چې د مسلمانانو د برم او عروج پخوانۍ کيسي ولوستلي او برحاله د مسلمانانو ذلت او کمزوري ته چې وکتل شي نو طبعا انسان ځوروي انسان ډير مايوسه شي ولي مورږ دومره ذليله شولو ولي دومره ولويدوايا دا راباندي دښمن وکړو؟ نه نه تاريخي حقايق چې ګوري دا هيڅ په مورږ غليم ندي کړي خپله مو سازش کړی خپله مو ځانونه تر دي بريده ذليله کړل دا ځکه يوويشتمه پيړۍ د علومو او فنونو د عروج پيړۍ ده علوم د ځمکي په سر دي يوازې لاس تېتول غواړي خو مورږ لاس نشو ورتېتولی دا ځکه چې بيا به تيکتاک کې لايف رانه تير شي لهولاب به رانه ميس شي همدغه د سوشل ميډيا پلاټفارمونه چې مورږ يي ببلاري ته سوق کړي يو نور ملتونه يي سر لوړي او مترقي کړل خبره په پلاټفارمونو کې نده چې څوک ادعا وکړي ګواکي دغه پلاټفارمونه خراب دي هيڅ ندي خراب بلکي ډير سودمند دي که دا ميډيا نه وی مورږ به د برجسته څيرو له ويناوو او ليکنو څنګه خبريدو؟ يو ښه مثال يي استاد جليلي ده چې زه يي د سوشل ميډيا له برکته پيژنم ليکني يي تعقيبوم او په ژوند کې ورڅخه استفاده کوم په همدي خاطر مي وپتيله چې د جليلي صيب ټولي هغې ليکني چې په فيسبوک پاڼه يي نشر کړي وي راټولي کړم او د يو کتاب په بڼه يي نشر کړم تر څو هغه خلک چې له دغو سودمندو ليکنو بې برخي دي برخمن شي , سوشل ميډيا يو ستر ضرورت ده د اوس عصر خو بايد ژمنه وکړو چې نور به يي مثبت کاروو چې هم د دغي دنيا او هم د هغې دنيا له ذلت څه وژغورل شو. الله دي استاد جليلي ته اجرونه ورکړي او زما دا کوچنۍ هڅه دي په خپل دربار کې قبوله کړي د ولس د ويښتيا پيلامه يي کړې په همدي هيله

اجمل هيوادمل

پکتيا 1403/7/1

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عزت جنازه :

برطـــانيې د اشـــغال پـــه لمړيـــو ورځـــو کـــې يـــو انګلـــيس افســـر يـــو هندوســـتاني وګـړي پـه ښپيـړه وواهـه، پـه مقابـل کـې هندوسـتاني هغـه انګلـيس پـه قـوت سـره په ښپيړه وواهه چې انګليس افسر په زمکه ولويد..

افســـر پـــدي عمـــل حيـــران شـــو او لـــه هغـــه ځايـــه لاړه ، پـــدي فکـــر شـــو چـــې ځرنګـــه يـــو هندوســـتاني دومـــره جرائـــت وکـــړ چـــې برطـــانوي افســـر پـــه ځـــوابي ښپيـــړه ووهـــي ، هغـــه برطانيـــه چـــې وســـيع ســـلطنت کـــې لمـــر نـــه غـــروب کيـــږي ، مرکـــز لـــوري تـــه لاړه تـــر څـــو هغـــوي خبـــر کـــړي او هندوســـتاني تـــه ســـخته ســـزا ورکړ شي..

لـــيکن هغـــه مهـــال لا زيـــات حيـــران شـــو چـــې جنـــرال دغـــي خبـــري پـــه اړه انتهـــايي د خونســـردي تعامـــل وکـــړ پـــه عـــادي ډول يـــي هغـــه خپلـــي بلـــي کـــوټي تـــه بوتلـــه د پيســـو يـــو بکـــس خـــلاص کـــړ لـــه هغـــه يـــي پنځـــوس زره روپـــۍ دغـــه افســـر تـــه ورکـــړي او ورتـــه وويـــل دا پيســـې واخلـــه هغـــه هندوســـتاني لـــوري تـــه لاړ شـــه معافي تري وغواړه او دا پيسې د معاوضي په شکل ورکړه

افســـر عصـــبي شـــو او احتجـــاج پـــه شـــکل يـــي وويـــل: مـــا تـــه دا حـــق حاصـــل دي چـې هغـه پـه ښپيـړه ووهـم او ذليـل يـي کـړم لـيکن هغـه تـه دا حـق نشـته چـې مـا ووهـــي ، دا زمـــا لپـــاره ، ســـتا لپـــاره ، لـــويي برطـــانيې لپـــاره ، زمـــوږ فـــوځ لپـــاره او ملکي لپاره توهين دي!!!

جنـــرال خپـــل افســـر تـــه وويـــل: دا يـــو فـــوځي حکـــم وګڼـــه او بـــي مـــورده بحـــث مـــه کوه څه چې درته وويل شول په هغه عمل وکړه !!

افســـر د حکـــم تعميـــل پـــه خـــاطر پيســـې واخيســـتي او هندوســـتاني ځـــاي تـــه لاړه او ورته وويل:

زمـــا معـــذرت قبـــول کـــړه مـــا تاســـي يـــوه ښپيـــړه ووهلـــي او تـــا پـــه ځـــواب کـــې زه ووهلم حساب برابر شو، دا پيسې د معذرت په پار تا ته تحفه دي.

هندوســـتاني معـــذرت او تحفـــه قبولـــه کـــړه لـــيکن دا يـــي هيـــر کـــړل چـــې پـــه خپلـــه زمکه يي د وخت د امپراتورۍ افسر ته ښپيړه ورکړي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغــه مهــال پنځــوس زره لــوي مبلــغ وو ، هندوســتاني پــري كــور واخيســت ، پــه يــو څــه حصــه يــي تجــارت پيــل كــړ ، يــوه ركشــه واخيســته چــې هغــه مهــال بــه دري ســوليو لپــاره اســتعماليده او يــواځې بــه ســرمايه دارو ســره وه او زراعتــي زمكه يي هم واخيسته..

حالــت يــي ورځ تــر بلــې ښــه كيــده بلاخــره تــري يــو كاروبــاري شــخص جــوړ شــو او ځپيــړه يــي هيــره كــړه لــيكن انګريزانــو د هندوســتاني ځپيــړه هيڅكلــه هيره نه كړه .

څــو كالــه ورســته انګريــز جنــرال هغــه افســر راوغوښــت او ورتــه وويــل: ســتا هغه ځپيړه ياده ده چې يو هندوستاني وګړي دركړي وه ؟

افسر ورته وويل: هو! هغه څرنګه هيرولي شم؟

جنــرال ورتــه وويــل: اوس يــي وخــت راغلــى! لاړ شــه هغــه پيــدا كــړه او پرتــه لــه مقــدمي د خلكــو پــه وړانــدي داســي ځپيــړه وركــړه چــې پــر زمكــه غــوزار شي.

افســر ورتــه وويــل: هغــه داســي وخــت كــي مــا تــه ځــوابي ځپيــړه راكــړه چــي ورســره ســره هــيڅ نــه وو. اوس خــو بــه هغــه كاروبــاري شخصــيت جــوړ شــوي وي او حاميــان او محافظــان بــه لــري هغــه بــه نــه يــواځي مــا پــه ځپيــړه ووهي بلكې زما د مرګ ويره هم شته.

جنــرال ورتــه وويــل: تــا نشــي وهلــې ، لاړ شــه د حكــم تعميــل وكــړه او بــي ځايه بحث مه كوه!

افســر د خپــل جنــرال حكــم ومانــه او هندوســتاني لــوري تــه لاړه د هغــه خــواو شــاه حاميــان ، خادمــان ، محافظــان او خلكــو مجمــع وه ، افســر پــه ډيــر طاقــت هندوستاني وګړي په ځپيړه وواهه چې سملاسي په زمكه پريوته.

هندوســتاني هــيڅ عكــس العمــل ښــكاره نــه كــړ تــر دې چــې حتــي د انګرېــز لوري ته يي د ليدو جرأت هم ونه كړ ..

افســر حيــران شــو او پــه تيــزي د خپــل جنــرال لــوري راغــي چــې كلــه جنــرال وليد تري پوښتنه وكړه: ستا په څيره كي حيرانتيا او تعجب ګورم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسر وویل: په لمړي ځل هندوستاني په ډیر طاقت او قوت سره په ځپیړه ووهلم کله چي ورسره هیڅ نه ول لیکن نن چي هغه سره هر څه ول د خبرو جرأت یي هم ونه کړای شو نو دا څرنګه ممکن ده؟؟؟

جنرال ورته وویل: په لمړي ځل هندوستاني سره یوازې عزت وو ، نور یي د بایللو لپاره څه نه درلود او هغه ته عزت تر ټولو قیمتي ارزښت وو نو ځکه یي د خپل عزت څخه دفاع وکړه.

لیکن دوهم ځل هغه خپل عزت په پنځوس زره خرڅ کړ نو ځکه یي د عزت څخه دفاع ونه کړه ځکه چې هندوستاني له دغه ارزښت پرته نور اهم څیزونه هم درلود

محترمو او قدرمنو ورونو: دا د الله تعالی فطري قانون دي چې

منصبونه ، نا مشروع پیسي ، رشوتونه ، غلا ، په شوقي ډول دوه دري ودونه ، د قدرت او منصب څخه په استفادې تجارتونه ، نوي ماډرن کورنو اخیستنه، په خارج او داخل کي بلډنګونو اخیستنه ، لوګس او لګژري ګاډو اخیستنه ، د اغیارو او دښمن مفتي پیسي او مختلف پیکجونو اخیستنه او هغوي خیرات اخیستنه چې په هر نامه وي ظاهراً ډیر خوند کوي لیکن دغه حالت دوام او عادت د انسان څخه تر ټولو لوي معنوي ارزښتونه اخلي د مبارزي همت او جرات درڅخه اخلي، عزت اخلي ځکه چې ته به بیا د بایلاد لپاره ډیر نور څه لري ، ځکه چې تا به بیا ډیر مرفح ژوند ځان ته برابر کړي اوسی..

ځکه تا خپل معنوي ارزښتونه په پیسو ، خیراتونو ، پیکجونو ، منصبونو او څوکیو خرڅ کړ..

بیا هیڅکله نشي کولاي چي د اغیار څپیړي ته ټینګ شي ، که ته یي هر څه هیر کړي لیکن هغوي نه هیروي بیا انتظار وباسه چې کله به اغیار داسي څپیړه درکوي چي د اوچتیدو جرأت او همت به هم ونلري..

د دښمن ماغزه خراب نه وي او نه دومره بې وقوفه دی چې دښمني حالت کي تا نازوي او تا ته پیسي او خیراتونه درکوي او نه ته د پر آسایشه او لګژري حرام ژوند څخه مبارزي ته ګرځیدي شي او نه ملتونه بیا ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبارزي غېږ ته لبيک وايي بلکې بلعکس د ملتونو په وړاندې به لعنتی وي..

بيا هغه ملتونه چې ستا د ظلم ، استبداد ، فساد ، انحصار او همدارنګه د غربت له وجې زوريدلی وي بيا به د بايلاد لپاره هيڅ ونلري هم به ستا مقابل کې جګړې او مبارزي ته تيار وي او هم به تري د اغيارو په شمول هر څوک ستا مقابل کي عسکر ګيري کولاي شي..

بس ورونو دا هم الهي فطري قانون دي او هم د تاريخ سبقونه دي......

## مکمله تباهي:

که چيري غواړې چې يو قوم مکمل تباه او برباد کړي نو؛

هغه قوم ته تعليم ورکونې مسلکي کادرونه او استادان حقير کړه

هغه قوم ته علاج کونکي ډاکټران ذليل کړه

هغه قوم ته تربيت ورکونکي علماوو کرامو ذهنيت پسمانده جوړ کړه

هغه قوم حقير، معمولي ذهن ولا او ټيټ حيثيت خلکو ته لوړ لوړ منصبونه ورکړه.

## سکوت:

هميشه سکوت د جانب مقابل د خبرو تاييد نښه نه وي بلکې د جانب مقابل د شعور سطحي څخه د مايوسي او ناهيلي کيدو په معنی هم وي.

## استيو جابز:

نړيوال لوي کاروباري شخصيت او د اپيل کمپنې چيرمين ، مليارډر استيو جابز 56 کالو په عمر د لبلبې د سرطان له امله ومړ او په ميلياردونو ډالر په ميراث ورڅخه پاتي شول

د هغه څو اخرنی الفاظ او خبري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ زما له موجوده حالت څخه زما د ژوند کامیابي جوهر په نظر راځي لیکن ما سره د موجوده ځیزونو لرولو له امله زیاته خوشالي نه محسوسوم -
- ✓ په آخر کي سرمایه یواځې یو عدد راته ښکارې او یا داسې ځیز چې هغه کي یواځې عادت اچول شوي وي.
- ✓ دغه مهال چی زه په خپله بستره کی پروت یم ، مریض یم، د خپل ژوند فلم می تر سترګو کیږی. زه احساسوم چی زما ټول شهرت او دولت د مرګ په وړاندی بی معنی دی
- ✓ ته به څوک د خپل ګاډی چلولو لپاره ، نوکران به ستا د خدمت کولو لپاره، کارمندان به د خپلي زیات سرمایی او شهرت ګټلو لپاره په کرایه لاس ته راوړی - لیکن - یقیناً -
- ✓ هیڅ کله ، په هیڅ قیمت خپل مریضي او درد برداشت کوولو لپاره څوک په کرایه نشي نیولي
- ✓ انسان چي څومره مادي ځیزونه وغواړي لاس ته یي راوړي شي لیکن هغه ځیز چې یو ځل یي د لاسه ورکړي بیا یي نشي لاس ته راوړاي ، هغه ژوند دي.
- ✓ څومره چې زموږ عمر زیاتیږي په هماغه اندازه وښیاریږو او مونږ پوهیږو چې کوم ساعت چې 30 ډالره قیمت لري او چي کوم 3000 ډالر قیمت لري یو ډول وخت ښودنه کوي ، مونږ پوهیږو چي 30 ډالرو بټوه کي او 300 ډالرو بټوه کي پیسي کیږدو رقم هماغه یو وي
- ✓ که چیري مونږ د 150000 ډالرو ګاډي وچلوو او که د 15000 ډالرو قیمت ګاډي وچلوو آخر کار هماغه منزل ته مو رسوي لاره او فاصله هم یو ډول وي
- ✓ که چیري مونږ 300 میټر مربع کور کي ژوند وکړو او که 3000 متره مربع کور کي ژوند وکړو ، تنهایی هماغه یوه وي او مونږ د څو مترو زیات ځاي نشو نیولي..
- ✓ ستا حقیقي خوشحالي مادي ځیزونو پوري نوي تړلي که تا سره څه اوسي او ته وغواړي چي بزنس کلاس کي سفر وکړي یا اقتصادي کلاس کي که چیري جهاز سقوط کوي نو ټول سقوط کوي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـدي لپـاره اميـد كـوم چـې تاسـو پـوه شـوي ياسـت ، كـه چيـري پـه ژونـد كـي يـو اعلي مقصد ولري او يا نورو ته خوشحالي وركړي دا حقيقي خوشحالي ده

**څو حقايق چې بايد په ژوند كي ورته پام وكړو :**

- ✓ خپـل اولاد تـه دولـت منـدي مـه زده كـوي بلكـې هغـوي تـه خوشـحالي زده كـول زده كـړي كلـه چـې هغـوي لـوي شـی هغـوي تـه بـه د څيزونـو قيمت معلوم وي نه دا چې ورته د قيمت قيمت معلوم شي
- ✓ خپـل خـوراک د دوا پـه څيـر وخـوري داسـې نـه چـې بيـا دوا د خـوراک په څير خوړلو ته مجبور شي
- ✓ پيسـو څخـه سـپره جـوړه كـړه او سـيوري لانـدي ژونـد وكـړه ځكـه چـې پيسـې مـونږ تـه د ژونـد كولـو لپـاره راكـړ شـوي دي نـه دا چـې ژونـد د پيسو لپاره
- ✓ د هغـه خلكـو سـره محبـت وكـړي چـې الله تعـالي تاسـو لپـاره انتخـاب كـړي ، هغـوي سـره احسـان وكـړي يـو ورځ بـه داسـې راشـي چـې يـو بل ته به ضرورت شي
- ✓ كـه چيـري غـواړي چـې سـرمايه داره اوسـې نـو يـواځې مـزل كـوه او كه غواری خوشحاله اوسی نو د نورو سره مزل او مخكي ځه..

محترمـو ورونـو:الله تعـالی د مـونږ او تاسـو تـه قيمتـي ، پـه ايمـان او خوشـحاله ژوند راكړي

## د سيد قطب اعدام:

كلـه چـې د سـيد قطـب رحمـه الله د اعـدام شـيبې راورسـيدي او هغـه يـې د دار تختـې لـوري تـه پـه داسـې حـال كـي روان كـړ چـې لاسـونه يـې پـه ځنځيرونـو تړلي وه..

د مصـر قـانون پـه اسـاس دغـه مهـال يـو دينـي عـالم بايـد ملـزم تـه د شـهادت كلمـي تـذكر وكـړي، همداسـې وشـول مـلا ورمخكـي شـو او سـيد قطـب تـه يـې د كلمي ويلو تذكر وكړ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـيد قطـب رحمـة الله عليـه دغـه مهـال داسـي خـواب وركـړ چـې د خلفـاوو راشـدينو دوري ورسـته يـي تـر قيامتـه د واقعيـت او حقيقـت يـو رښـتيني انځـور وړاندي کړ.

سـيد قطـب رحمـه الله پـه ځنځيـر ترلـو لاسـونه هغـه مـلا پـه خولـه وواهـه او ورته وويل:

دا څرنګـه کلمـه ده چـې زه پـري دار تـه خيـژم او تـه پـري ځـان تـه روزي پيـدا کوي؟

بـس قـدرمنو ورونـو پـه ټـول اسـلامي تـاريخ او زمـونږ د وطـن تـاريخ کـي همـدا حال دی

پـر چـا د دغـي کلمـي پـه خـاطر هـديري ډکـي شـوي او چـا لـه دغـي کلمـي تجـارت جـوړ کـړي همدارنګـه يـي پـري بلډنګونـه ، تجارتونـه ، منصـبونه او په خارج او داخل کورنه واخيستل او شوقي دري څلور ودونه وکړل...

الله تعالی زمونږ تاسو ټولو اخرني خاتمه نيکه کړي آمين يارب العالمين

**با اصوله مومن:**

مـؤمن بـا اصـوله انسـان وي او اصـولي ژونـد خپـل قيمـت لـري پـه دغـه اړه ډير اياتونه او احاديث راغلي...

پخـواني زمانـه پـه نـړي کـي د مـذهبي جبـر او اسـتبداد زمانـه وه نـو ځکـه بـه ازمايښـت اکثـره حـالاتو کـي د تشـدد کيفيـت خپـل کـړ او پـه جګـړي بـه بـدل شـو لـيکن اوس پـه نـړي کـي د مـذهبي آزادئ زمانـه ده او د اهـل ايمـان د ازمايښت کيفيت هم بدل دي.

هغـه ازمايښـت چـې پـه اوسـني وخـت کـي پـه مسـلمانانو او مومنـانو راځـي اکثـره پـه نفسـياتي او روانـي کيفيـت کـي وي - يعنـي هغـه حـالات چـې د انسـان نفـس راپـاروي- د حـالاتو عکـس العمـل انسـان کـي د نفـرت جذبـه پيـدا کـوي - هغـه حـالات چـې انسـان تـه کلـه کلـه د حـق پـه لاري کـې هـم شـکوک او شـبهات پيـدا کـوي - داسـې حـالات چـې سـطحي انسـانانو طـرز فکـر او نظريـه بـدلولي شـي . د حـالاتو څخـه پـه تنـګ انسـانان پـه منفـي ګرايـي کـې سـکون او راحـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساسوي ، کله کله منفي ګرايي دومره اوج خپل کړي چې خداى ناخواسته ايماني روحيي ويره پيدا شي چې اوسمهال د ځينو ملګرو په خبرو او ليکنو کې ښکاري...

محترمو ورونو: که حالات هر ډول وي ته د مومن او مسلمان په صفت په اصولي ژوند مکلف يي ... ته په خپل ايماني مسوليتونو مکلف يي، اسلام او د مسلمان عمل ډير توپير لري. د مسلمان هر عمل د اسلام نمايندګی نه کوي...

همدا د اصولي ژوند قيمت دي چې صبر به کوو..

نو ځکه الله تعالی په سورت عصر کې په زماني سوګند يادوي چې ټول انسانان په زيان کې دي پرته د دوه ډوله خلکو -

هغه چې يو بل ته په حق وصيت او نصيحت کوي او هغه چې په صبر وصيت او نصيحت کوي.الله تعالی د عمل توفيق راکړی.

## د خلکو خوله بندول:

سقراط ته ولې د زهرو پياله ورکړ شوه.؟ اخر يونان واکمنانو د هغه سره څه مشکل لاره او څه تکليف يي درلود؟

سقراط نه ليډر وو، نه کوم جګړه مار وو او نه يي کوم سياسي اثر رسوخ درلود چې د وخت حاکمانو ته خطر جوړ شي!

سقراط د زهرو پياله د پيريو پخواني تاريخ دي! ځيني پوښتني اوس هم حيرانوونکی دي! مثلاً د شمالي کوريا دري نسله قيد وي ، اتيا کالو نيکه او يو کلن لمسي د زندان کې د ټولي کورني سره ژوند کوي ، د نيکه او لمسي به هيڅ جرم نه وي ليکن په زندان کې به ژوند تيروي ، ولې او څه لپاره؟

سقراط يواځينی جرم دا وو چې هغه خپلو شاګردانو ته پوښتني کول زده کړل! د حکمرانانو څخه!

پوښتنه کول په هغه زمانه او اوسنی زمانه کې پوښتنه نه ګڼل کيږي بلکې داسي انګېرل کيږي چې د اهل اقتدار په ظرفيت شک کيږي ، د يونان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخـــت مـــذهبي مشـــران او اســـتادان هـــم د ســـقراط مخالفـــت ول ځکـــه چـــې مخکـــي به هغوي درس ورکاوه شاګردانو به قبلاوه

ليکن کله چي شاګردانو پوښتنې پيل کړي !

د اهل اقتدار څخه پوښتنې!

د امراوو څخه پوښتنې!

د مذهبي مشرانو پوښتنې !

همدا يوه پوښتنه ؟

که آسائش وي نو دا مخلوق ولې پريشانه دي؟

دغه پوښتنو ځواب نه وو نو ځکه سقراط ته د زهرو پياله ورکړ شوه!

کـــه شـــمالي کوريـــا کـــي کـــوم شـــخص د بادشـــاه څخـــه پوښـــتنه وکـــړئ ټولـــه کـــورني سره د بچيو او والدينو په زندان کي اچول کيږي!

اهـــل اقتـــدار پخـــوا هـــم د پوښـــتونو ويريـــده او نـــن هـــم ويريـــږي - بـــس هغـــو معاشـــرو ترقـــی کـــړي چـــې د پوښـــتنې مقابـــل کـــي د خلکـــو مشـــروعيت غـــواړي او وايي : اقتدار راکړي بيا به د ستاسو پوښتنو ځوابونه درکړو..

لـــيکن ځينـــې ټـــولني د شـــمالي کوريـــا پـــه ډول وي چـــې نســـلونه پـــه زنـــدان کـــي وســـاتي او بيـــا ځـــان تـــه قناعـــت ورکـــړي چـــې شـــايد اوس نـــور بـــه پوښـــتنې اوچتونکي بند شي!

پوښـــتنې بـــه ځکـــه اوچتيـــږي ځکـــه چـــې اهـــل اقتـــدار پوښـــتنې تـــه د شـــک پـــه نظـــر ګوري ، او شک د هر چا څخه رواني ناروغ جوړوي..

لکـــه پـــه شـــمالي کوريـــا کـــي د خپلـــو والـــدينو ورســـته پـــه ترتيـــب باچـــاه او باچـــا پلار ته دعا هم جرم دی.

او دا رواني ناروغي په مختلفو شکلونو څرګنديږي ..

نو ځکه پوښتنې به هيڅکله بندي نشي........

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقاعد :

د انګلستان د فوځ مشر فیلډ مارشال برنارډ منټګمري له تقاعد ورسته وخت صدراعظم سره د ملاقات غوښتنه وکړه ، د ملاقات دوران کې صدراعظم ته وویل: زه اوس بوډا شوي یم او له ریټائرمنټ ورسته د تقاعد پیسو پرته بله کومه د عاید ذریعه نلرم ، د کرایي په کور کې استوګن یم نو هیله ده چې ماته یو عادي کور او یو څه د زرعي زمکې کرلو آلات راکړل شي تر څو باقي عمر په سکون سره تیر کړم صدراعظم په تحمل سره د هغه ټولې خبرې واوریدې او په ځواب کې ورته وویل:

ګوره مسټر منټګمري! یقینا ته زمونږ ملی اتل یې - په نړیواله جګړې کې تا د برطانیې امپراتورۍ لپاره لوي خدمتونه کړي چې ټول قوم په هغه معترف دي لیکن جناب جنرال صاحب ستاسې خدمت بدل کې هره میاشت یوه اندازه معاوضه د تقاعد په شکل درکول کیږي.

مسټر منټګمري! زه د برطانیې د صدراعظم په توګه د عوامو د حقوقو محافظ یم او د هیواد قانون په اساس د خلکو د مالیي ( ټکسونو) پیسې ځان او نورو لپاره د مصرف او یا ورکوني هیڅ حق نلرم نو بناء معذرت وړاندي کوي - جنرال دغو خبر اوریدو ورسته هیڅ خفه نشو او له صدراعظم څخه یې شکریه وکړه او لاړه

قدرمنو او محترمو ورونو:

له بده مرغه زمونږ هیواد په وروستیو لسیزو کې هر لوړپوړي چارواکي ملکیت عامه داسې مصرفوي چې ته به وایې په میراث ورته کوم شخصي ملکیت پاتي دي.هر یو ته په خپل انډیوالانو او ډلې ټپلې د عوامو مال تقسیم یو عادي او جایز روند ښکاري هر یو پسې تعقیبي لسګونه موټري رواني وي او ټول مصارف د هغه مزدور د جیب څخه ځي چې دري بجې دشپې له خواره خوبه پاڅیږي او منډيي لوري ته ځي د هغه شاروالی مزدور له تنخوا ګرځي چې ټوله ورځ جارو په لاس کوڅې پاکوي او داسي نور په سلګونو موارد...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرفروش:

پــه 1956 مــيلادي كــال كــي يــو پاكســتانی فلــم جــوړ شــو چــې د هغــه نــوم ,, ســرفروش,, وو. پـــه دغـــه فلـــم كـــي مركـــزي كـــردار ( هيـــرو ، هيـــروبين) د ســـنتوش كمـــار او صـــبيحه خـــانم وو- د فلـــم يـــو صـــحنه كـــي د فلـــم هلـــك ( ســنتوش كمــار) د صــبيحه خــانم كــور تــه د غــلا لپــاره ځــي - د غــلا پــه وخــت كــی د ســحر اذان كيــږي.. فــورا د فلــم هلــك پــه لمانځــه دريــږي او لمــونځ ادا كوي.

د فلــم انجلــي ( صــبيحه خــانم) لــه خوبــه ويښــه شــوي وي او دا تولــه صــحنه پــه حيرانتيــا ســره ګــوري پــه دغــه وخــت كــي فلــم انجلــي پــه هلــک مييئــه كيــږي او دا ډول صـــحني پـــه فلمونـــو كـــي وي... پـــه هـــر حـــال صـــبيحه خـــانم د ســـنتوش ځخه پوښتنه كوي چې دا سنګه چل دي؟

ســـنتوش خپـــل تـــاريخي ډائـــيلاک وايـــي چـــې څـــو لســـيزي د بـــر صـــغير پـــه هيوادونـــو كـــي داســـي مشـــهور شـــو چـــې هـــره كوڅـــه او بـــازار كـــي بـــه خلكـــو د غلو او رشوت خورو په اړه استعمالوه..

سنتوش صبيحه خانم ته په ډائيلاګ كي وويل:

* چوری میرا پیشہ ہے اور نماز میرا فرض *

غلا زما پيشه ده او لمونځ زما فرض دي..

دغــه ډائــيلاک د حقيقــت دومــره ښــه تمثيــل كــړي چــې تــر اوســه هــر رشــوت خـــور ، غـــل او ډاكـــو پـــه هغـــه عمـــل كـــوي او 75 راهيســـي دا ڈائـــيلاګ اوس هـــم ژوندی دی

يقـــين وكـــړي چـــې رشـــوت بـــه اخلـــي او د جومـــات پـــه اول صـــف كـــي بـــه ناســـت وي ، غـــلا بـــه كـــوي او زكـــات بـــه هـــم وركـــوي ، مســـلمانان بـــه وژنـــي او تلاوتونه به هم كوي او داسې نور...

بـــس: چـــوری ،رشـــوت،قتل پیشـــہ ہـــے اور نمـــاز ، زكـــات ، رمضـــان فـــرض ہـــے الله تعالی د اول مونږ ته هدايت وكړي...امين يارب العالمين

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عالم نصیحت:

*د وخت واکمن ته د یوه زاهد عالم نصیحت*

د زاهد عالم نصیحت ډېر غوره او خورا مؤثر يي، ځکه هغه د پیسو او بل څه تمه نه لري، نو د واکمنو لپاره رښتینی ناصح او دردمن خواخوږی يي، که څه هم اوس داسې خلک نادر موندل کیږي، خو الحمد لله زموږ امت کې يې بېلګې زیاتې دي، د هغوی نصیحتونه له برکتونو او کرامتونو ډک دي او زړونو ته ژر لاره کوي، نو ځکه یې زه راټولوم او پر خواله رسنیو یې نشروم. په دې نیت چې چا ته متوجه دي هغوی ګټه ورنه واخلي، دا طریقه زما له نظره ګټوره ده او زما همدومره وس ده. إن ارید إلا الإصلاح ما استطعت.

امام ابو حامد الغزالي رحمه الله پخپل کتاب "التبر المسبوک في نصیحة الملوک" کې د وخت واکمن محمد بن ملک شاه السلجوقي ته لیکي: د وخت واکمن هارون الرشید رحمه الله ته یو زاهد عالم ورغی او د چین د یوه کافر پاچا د عدل نادره کیسه یې ورته وکړه! هغه ورته وویل: د مومنانو امیره! زه چین ته تللی وم، د چین پاچا مې ولید چې غوږونو یې کار نه کوه، یوه ورځ مې ولید ژړل یې او ویل یې: په الله قسم کوم چې په غوږونو مې نه ژاړم ، بلکې په دې ژاړم چې مظلوم به مې دروازه کې ولاړ يي، د مرستې نارې به وهي او زه به یې نارې نه اورم!

پاچا زیاته کړه چې شکر سترګې مې روغې دي، نو خپلو خلکو ته یې امر وکړ چې اعلان وکړئ او خلکو ته ووایئ چې له هر چا سره ظلم کیږي هغه دې سرې جامې واغوندې! له دې اعلان وروسته به پاچا پر خپل فیل سپور شو، بازار کې به روان شو، چې د سرو جامو کس به یې ولید وروبه یې غوښت، موضوع به یې ورنه واوریدله، له تحقیق او پلټنو وروسته به یې عادلانه پرېکړه وروکړه.

زاهد عالم خلیفه ته وویل: اې د مومنانو امیره! ته د دې کافر پاچا عدل او د عدل په لاره کې هڅو ته وګوره! او دېته چې د الله تعالی پر بنده ګانو څومره مهربانه و! او ته خو الحمد لله مسلمان واکمن یې او بیا د نبوت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــورنۍ نـــه يـــې، تـــه وګـــوره چـــې پـــر خپـــل ولـــس څـــومره مهربانـــه يـــې او لـــه هغوی سره څومره عادلانه چلند کوې؟!

خاتمي مستوري  دي

پـــه دغـــه تصـــويرونو يـــو شـــخص مشـــهور امريکـــايي جـــوزف اسـتېس ( Joseph Estes) دي چـــې د پـــام وړ تـــاجر وو او انتهـــای درجـــي متعصـــب عيســـوي وه او پـــه مســـلمانانو او اســـلام طنـــز او خنـــدا د هغـــه ورځينـــۍ عمـــل وو ، د مثـــال پـــه ډول هغـــه بـــه پـــه تلويزنونـــو کـــي د کعبـــې پـــه اړه ويـــل: مســـلمانانو يـــو تـــور صندوق په صحرا جوړ کړي او د هغه عبادت کوي..

بل تصوير د حرمينو ( سعودي) له هيواد څخه د عبدالله القصيمي دي

مشـــهور عـــالم, داعـــي او مبلـــغ وو ، تـــر هغـــي چـــې خلکـــو ورتـــه د دوهـــم ابـــن تيميـــه لقـــب ورکـــړ ، د هغـــه يـــو کتـــاب ډيـــر شـــهرت ترلاســـه کـــړ ( الصـــراع بـــين الاسلام والوطنيه)

پـــه اهـــل علـــم کـــي دغـــه کتـــاب ډيـــر مقبوليـــت ومونـــد تـــر دي چـــې د حـــرم مکـــي د وخـــت امـــام د هغـــه پـــه اړونـــد پـــوره قصـــيده ولوســـته - مشـــهور عـــالم صـــلاح منجـــد دغـــه کتـــاب پـــه هکلـــه وويـــل: قصـــيمي دغـــه کتـــاب پـــه ليکلـــو ســـره د جنـــت تاپـــه ځان ته ولږوله

پـــه 1980 کـــي قميصـــی هغـــه مهـــال يوســـل او اتيـــا درجـــي تغيـــر وکـــړ چـــې کلـــه پـــه بيـــروت کـــي پـــه يـــوي عيســـوي انجلـــي عاشـــق شـــو ، لـــدي ورســـته هغـــه د ديـــن خلاف د ګمراهو افکارو دفاع پيل کړه او بيا يي دغه دوه کتابونه وليکل:

" يكذبون لكي يروا الاله جميلا "

درواغ وايې چې خدای مونږ ښايسته ليدلي.

او بل کتاب يي:

« هذي هي الأغلال »

دا هغـــه ځنځيرونـــه دي ( کتـــاب ، لمـــونځ ، روژه او نـــور عبـــادت يـــي د غـــاړي ځنځير سره تشبيه کړ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هغه د خپل الحاد اعلان وکړ او د الله تعالی له وجود څخه یې انکار اعلان کړ

العیاذ باالله

په1996 کي بیا ومړ او زمکې یي له وجود څخه پاکه شوه .

په همدي دوران کي عیسايي مبلغ جوزف استس د خپلي کورني په شمول د یوه مصري دعوتګر په لاس اسلام قبول کړ ، خپل نوم یې یوسف ته بدل کړ او په امریکا کي ورڅخه د اسلام لوي داعي جوړ شو چې د هغه په لاس په سلګونو خلک مسلمانان شول او د اسلامي دعوت یو لوي مرکز یي هم پرانیست

قدرمنو او محترمو ورونو:

د ابتدا او پخواني اعمال له یاده وباسي، په هغه غرور مه کوي د انجام او خاتمي ته متوجه شي او عبرت واخلی.. په خپل ایمان او ضیاع د اعمالو وویریږه د الله تعالی د محکمو اختیار په لاس کي مه اخله!

په نورو د کفر ، ارتداد او ګناه ټاپي پریږږي د خپل ځان د ایمان ساتني غم وخوري ، له بده مرغه ډیرو په سختیو کي قرباني ورکړه لیکن کله چي د منصب او نعمتونو وخت راغی هر څه یي د لاسه ورکړل او هیر کړل، رشوت دوي خوري ، د مسلمان حق دوي خوري ، ظلم دوي کوي ، په دوه دري کالو کي دري ځلور ودونه وکړل ، پاخه کورونه او تجارتونه یي خپل کړل او لا هم دغه سلسله روانه ده..

رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث مفهوم دي چې د بنده زړه د الله تعالی په ګوتو کي دي څرنګه یي چې وغواړي په هماغه دول یي اړوي ،

ځیني بیا د خلکو له خولو او قلمه ویره لري او هر څه په تخریب شمیري ، د خلکو خولي او قلم مهم ندي د ملایکو قلم مهم دي د الله تعالی نظارت او لیدل مهم دي ، له هغه ویره پکار ده ، دلته خو به د خلکو خولي بندي شي ، ملایکي به څرنګه بندي کړي ؟ د الله تعالی نظارت به څرنګه بند کړي ؟ د خپل لاسونو او پښو شهادت به څرنګه بند کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـه بـه درتـه بيـا تـر ټولـو سـخت حالـت وي پـه هغـو چـي تـه پـري نـن د جهنمـي فتـوا ورکـوي جنـت لـوري تـه روان وي او تـه د اخـري بـدي خـاتمي لـه املـه جهنم ته لوري ته!

د دنيـا ډيـر ظـاهري تـور بـه هلتـه سـپين وي او ډيـر ظـاهري سـپين بـه هلتـه تـور وي ..

الله تعالی د زمونږ ټولو اخري خاتمه په ايمان کړي..

## با وقاره ځوان:

امـوي خليفـه سـليمان بـن عبـدالملک د بيـت الله څخـه طـواف کـاوو- سـترګې يـي پـه يـوه ځـوان ولږيـدي چـي د ځيـري او رفتـار څخـه ډيـر پـر وقـاره ښـکاريده ليکن لباس يي د مسکينانو په ډول وو.

خليفه سليمان پوښتنه وکړه : دا ځوان څوک دي؟

ورتـه وويـل شـول,, دغـه ځـوان سـالم نـوميږي او د عبـدالله بـن عمـر رضـي الله تعـالی عنـه ځـوي او حضـرت عمـر الفـاروق رضـي الله تعـالی عنـه لمسـی دي. خليفـه يـو څـه ډچکـه وخـوړه او وويـل: هغـه راتـه راولـي - ځـوان راوغوښـتل شـو _ کلـه چـي راغـی خليفـه ورتـه وويـل: زه سـتا د نيکـه ډيـر مـداح يـم - سـتا پـه دغـه ډول حالـت ليـدو سـره زيـات خفـه شـوم - زه بـه خوشـحاله شـم چـي سـتا مرسـته وکـړم- خپـل ضـرورتونه راتـه ووايـه - څـه چـې غـواړي هغـه بـه درکـړ شي!

ځـوان پـر وقـاره او آرام انـداز کـې ځـواب ورکـړ: يـا اميـر المـومنين! دا مهـال زه د الله تعـالی پـه کـور کـي يـم - مـا تـه د الله تعـالی څخـه حيـا راځـي چـې د هغه په کور کي ناست له بل چا څخه څه وغواړم.

خليفه چې کله د ځوان د متانت څخه ډک ځواب واوريد خاموشه شو،

خليفـه خپـل موظـف خـادم تـه وويـل: دغـه ځـوان چـې کلـه د عبـادت څخـه فـارغ شو او د کعبې حرم څخه بيرون راووت ما ته يي راولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سالم بن عبدالله بن عمربن الخطاب چې کله د عبادت څخه فارغ شو د کعبې حرم څخه بیرون راووت د خلیفه خادم ورته وویل : خلیفه ستا انتظار کوي- سالم بن عبدالله خلیفه ته حاضر شو !

خلیفه ورته وویل: اې ځوانه ! اوس خو په بیت الله کې نه یې - خپل ضرورتونه راته ووایه- زړه مي غواړي چې مرسته درسره وکړم!

سالم ځواب ورکړ: اې امیرالمومنین! زما کوم ډول ضرورت پوره کوي ؟ د دنیا او که د آخرت ؟

خلیفه ځواب ورکړ: زما په لاس کي خو یواځې د دنیا مال او متاع ده!

سالم ورته وویل: یا امیر المومنین! ما خو دنیا کله د الله تعالی څخه هم نده غوښتې چې د ټولې دنیا مالک کل دي، زه به یې له تا څرنګه وغواړم ؟ زما ټول ضرورتونه او پریشاني خو صرف د آخرت پوري اړه لري - که پدي اړه راسره څه مرسته کولای شي زه به یي درته بیان کړم!

خلیفه حیران شو او پریشاني حالت کې وویل: اې ځوانه! دا خبري ته نه کوي بلکي ستا وینه یي کوي !

ځوان هماغسې خلیفه پریشانه او بې ځوابه پریخود - تري روان شو او په څو شیبو کی له سترګو پناه شو..

د وخت حاکم او هر مسؤل ته یي د آخرت د تیاري لوی سبق ورکړ.

محترمو ورونو: کله چې د الله تعالی کور کې یاست هلته باچا او ګدا یو حیثیت لري ، دنیوي منصبونو خاوندانو او چارواکو لاسونو ته سرونه مه ټیټوي ، ذولجلال رب میلمانه یاست ، فقط خپل رب راضي کړي.

په سکاټلینډ کې یو غریب دهقان چې د خپلو پټیو لوري ته روان وو ، د یوه ماشوم آواز یې تر غوږه شو ، هغه د آواز لوري ته روان شو ګوري چې یو کم سنه هلک چې د ښکار په پار راغلي د ختو په دلدل کې تر ورو ډوب شوي او یو لاس خوروي ، هغه سملاسي د یوي ونې لوي لرګي د هغه لوري ته غوزار کړ او ورته یې وویل: دغه لرګی ونیسه او زه به دي کش کړم ، څو شیبې ورسته ماشوم هلک بهر راووت ، دهقان ورته وویل: ما سره کور ته لاړ شه تر څو د لمبا لپاره اوبه او همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــاکي جـــامي درکـــړم ، هلـــک وويـــل: زه غـــوارم لاړ شـــم ځکـــه پـــلار بـــه مـــي پريشانه او تشويش کي وي.

## ونستن چرچل:

ســبا ســهار يــوه شــانداره ټانګــه د دهقــان کــور مخکــي تــه ودريــده او يــو پــر رعبــه شخصــيت تــري ښــکته شــو. هغــه شخصــيت لــه دهقــان څخــه مننــه وکــړه او ورتــه وويــل: څــه غــواړي چــې زه يــي درکــړم ، دهقــان انکــار وکــړ او ورتــه وويــل: دا زمــا مســوليت وه کــه زمــا پــر ځــای هــر څــوک واي دغــه عمــل بــه يــي کاوه او همدارنګه دا دومره لويه خبره نده!

د هغــه شــخص اصــرار ســره بيــا هــم دهقــان انکــار وکــړ ، کلــه چــې هغــه شــخص رخصــت اخيســته ســترګې يــي پــه يــوه ماشــوم هلــک ولږيــدي، هلــک يــي ځــان تــه نږدي کړ او دهقان ته يي وويل: دا ستا ځوي دي؟

دهقــان ورتــه وويــل: هــو دا زمــا ځــوي دي او راتــه ګــران دي، هغــه شــخص وويــل: داســې وکــړه چــې اجــازه راکــړه چــې دا ماشــوم ځــان ســره لنــدن تــه بــوځم او هلتــه بــه وربانــدې تعلــيم وکــړم، دهقــان د ځــوي د ښــه راتلــونکې پــه پــار پــه دغــه وړانــديز راضــي شــو او ماشــوم لنــدن تــه لاړ. ماشــوم هلتــه درس ووايــه او دومــره مخکــې لاړ چــې نــن يــي نــړي اليګزينــډر فليمنــګ پــه نامــه پيژنــي ، هغــه فليمنــګ چــي پنســلين يــي ايجــاد کــړل ، هغــه پنســلين چــې د ســلګونو ميليونــه انســانانو ژونــد پــري الله تعــالى وژغــوره ، هغــه د لــوي شخصــيت ځــوي چــې د ختــو دلــدل کــي نښــتي وه د لمړنــي نړيــوالي جګــړي پــر مهــال پــه شــفاخانه کــي د ســختي مريضــي لــه املــه د مــرګ او ژونــد پــه کشــمکش کــي وه چــي د همــدې پنسلينو لـه املـه د هغـه ژونـد وژغـورل شـو. دغـه هلـک نـوم ونسـتن چرچـل وه او د هغه شخصيت چي دغه هلک پلار وه نوم رودولف چرچل وه

هغــه چــي لمړنــي نړيــوالي جګــړي پــر مهــال د برطــانيي مشــهور صــدراعظم وو

چرچـل مشـهور قـول دي او وايـي: نيکـي وکـړه هغـه بـه خامخـا سـتا لـوري تـه راګرځي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

محترمـــو ورونـــو: کـــه مـــونږ هـــر يـــو د کلـــي او کـــور يـــو ماشـــوم زدکـــړو تـــه تشـــويق او حمايـــه کـــړو کيـــداي شـــي همـــدا ماشـــوم زمـــوږ د دنيـــا او آخـــرت د نجات سبب شی.

## د بزرګ مزار:

يـــو ځـــل د پاکســـتان ســـند ايالـــت يـــو مشـــهور غـــل او ډاکـــو څـــه وخـــت لپـــاره بـــی روزګـــاره او غريـــب شـــو ، چـــا ورتـــه مشـــوره ورکـــړه چـــې فلانـــي مشـــهور بـــزرګ او ولـــي مـــزار تـــه دعـــا لپـــاره ورشـــه. هغـــه همداســـې وکـــړل ظـــاهرا شـــاندار او مـــزين مـــزار تـــه لاړه لمـــړي يـــي دعـــا وکـــړي او بيـــا چـــت پـــوري ونښـــته او د مـــزار د ټولـــو قيمتـــي زوړنـــد فـــانوس يـــي راخـــلاص کـــړ او ځـــان سره يي يوړه.

پـــه مـــزار کـــي ناســـت مجـــاورو او ملنګـــانو هغـــه پيژانـــده نـــو ځکـــه يـــي لـــه ډاره هغه مهال څه ونه ويل.

ډاکـــو قيمتـــي فـــانوس ښـــه پـــه لـــوړه بيـــه خـــرڅ کـــړ او پيســـې جيـــب کـــي واچـــولې ، د مـــزار ګـــدي نشـــينو او مجـــاورو پـــه غـــل عريضـــه وکـــړه او قضـــيه محکمـــې تـــه لاړه ، محکمې ډاکوو راوغوښت..

قاضي د ډاکو څخه پوښتنه وکړه او وويل: تا فانوس له مزار څخه وړي؟

ډاکوو ځواب ورکړ: هو ما خپله خلاص کړ او وړي مي دي!

قاضي: ولي د يوړ؟

ډاکـــوو: کـــور کـــي مـــي ډوډئ نـــه وه غريبـــي وه ځکـــه نـــو د مـــزار زيـــارت تـــه لاړم چـــې زمـــا حاجـــت پـــوره کـــړي، د قبـــر څخـــه هغـــه بـــزرګ راتـــه وفرمايـــل چـــې فـــانوس ســـتا شـــو هغـــه خـــرڅ کـــړه او خپـــل حاجـــت پـــري پـــوره کـــړه مـــا هـــم د حکم تعميل وکړ فانوس مي خرڅ کړ او خپل حاجت مي پري پوره کړ..

قاضي څو شيبې سر ښکته کړ او بيا يي ګده نشينو او مجاورو ته وويل:

يـــا خپلـــه عقيـــده بدلـــه کـــړي او پـــه ليکلـــي ډول يـــي راکـــړي چـــې قبرونـــو کـــي ستاســـو وليـــان او بزرګـــان نـــه څـــه اوريـــدلي شـــي او نـــه حاجـــت پـــوره کـــولاي شـــئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به مونږ ستاسو عقیدي مطابق قضیه مخکي یوسو او یا وواياست چي ستاسو د عقیدي مطابق ډاکو ربنتيا وايي.

مجاورو او ګډه نشینو یو څه صلاح مشورې وروسته خپل تجارت د بچوني په پار خپله قضیه او کیس له محکمې بیرته واخیسته او تري تیر شول

بس محترمو ورونو:

دا خود ساخته د مړو مزارونه او دربارو لوي لوي تجارتونه دي همدارنګه په مطلق ډول پنځه نوي فیصده د ژوندیو پیروانو او خود ساخته بزرګانو دربارونه هم تجارتونه دي..

## د کورنۍ پوستکی ایستل:

حضرت عمر رضي الله عنه یو شمېر ځوانان بې کاره دیوالونو ته وزګار ناست ولیدل

پوښتنه یي وکړه چي تاسو څوک یاست ؟

ځواب ورکړ شو: مونږ توکل کونکي یو..

په یو روایت کي راځي چې حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه هغوي ته دوري مقرري کړي او په درو یي ووهل او بیا ئي وويل: دوي د خپلو کورنیو څخه د پوستکي ویستلو ته ناست دي ، او بیا خپله دا مشهوره وینا وکړه

زه ډیر بد ګنم چې څوک فارغ وګورم چې نه د دنیا کار کي مصروف وي او نه د اخرت کار کي مصروف وي پداسې حال کي چې دوي پوهيږي چې له آسمان څخه د سرو او سپینو زرو باران نه کيږي

هسې ما ویل چې اوسمهال له امارت له راتللو وروسته په زرګونو مدرسې جوړي شوې او زیاتره یي له حکومت لخوا تمویليږي لیکن زمونږ هیواد کی د نظامونو د بقا نه کوم ضمانت شته او نه تیر سلو کلونو کي د سیاسي ثبات خاوندان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه به دا وه چې د سبقونو تر څنګ ورته حکومت د هنرونو د زدکړو مراکز هم جوړ کړي واي..

امام احمد بن حنبل رحمه الله د وخت والي څخه غوښتنه وکړه چې هغه چا ته دي مدرسه کې داخله نهورکوي چې د علم تر څنګ يي بل هنر زده نه وي..

ځکه چې که هنر يي زده وي هغه به هنر خرڅوي او که نه وي د دين خرڅون ويره شته..

کيداي شي يو شمېر زما نظر سره موافق نه وي ليکن که مونږ مذهبي طبقه دي ته وهڅوو چې د چندو پر ځای په خپل ځان متکي وي نو د ايمانياتو ساتنه کي هم ورسره مرسته کولای شی..والله اعلم

**د فتنو دور:**

امام بيهقي رحمة الله عليه په شعب الايمان 1763 نمبر يو حديث ذکر کړي چې مفهوم يي په لاندی ډول دي:

- ✓ زر ده چې په خلکو به داسې زمانه راشي چې اسلام به يواځې نوم پاتي شي - د قرآن به يواځې ټکي پاتي شي - جوماتونه به اباد وي ليکن د هدايت څخه به خالي وي - علماء به د آسمان لاندي تر ټولو بدترين مخلوق وي- دوي د لوري به فتنه راوځي او دوي لوري ته به رجوع کوي

(الحديث)

محدثين دغه حديث په هکله وايي چې:

د حديث مفهوم بلکل واضح دي - ذکر شوي حديث د امت د داسې زماني څخه پرده پورته کړي چې زمونږ امت به د فطرت قانون سره سم د زوال ښکار وي - د اعتماد له پلوه به امت بلکل خالي وي دغه زمانه کي به علماء غلطي او بې ځايه فتواوي ورکوي او غلط تقريرونه به کوي - لمړي دغه فساد ښکار عوام وي او بيا به خپله علماء هم د فساد ښکار شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علماوو تقریرونو کي به دین متوازن او معنوي کیفیت نه وي - د غلو ، تعصب او افراطی افکار ترویج به کوي- نتیجه کي امت د یو بل په وړاندې به صفونه کي ولاړ وي - علماء به خپله د هغي فتنې ښکار شي چې خپله یي جوړه کړي وي.

نو پدي اساس ابن بادیس رحمة الله علیه فرمایي:

مسلمان به تر هغه مهاله اصلاح نشي تر څو چې یي علماء اصلاح نشي..

بناء ورونو غلبه دین یواځې هیڅکله معني دا نده چي د معاشري ټول خلک د خامخا مسلمانان وي بلکي غلبه دین معني چې د مسلمانانو اجتماعي نظام په الهي عدالت ، انصاف او مطلوب مساوات ولاړ وي..

څه موده وړاندې نړیوال اقتصادي ژورنال کي د امریکا د جارج واشنګټن پوهنتون یو مسلمان پروفیسور ډاکتر حسین عسکري یو تحقیق وړاندې کړ چې محتوا دا وه چې اسلامي هیوادونه څرنګه اسلامي دي؟

په دغه هر اړخیز تحقیق کي معلومه شوه چې هغه خلک چې ریاستي او معاشرتي اسلامي قوانینو باندي په خپل روزمره ژوند کي عمل کوي هغوي د اسلامي هیوادونو ندي او دا تحقیقات څرګندوي چې تر ټولو زیات هیوادونه چې دغه برخه کي په اسلامي قوانینو عمل کوي لمړي د نیوزیلنډ خلک دي بیا په ترتیب سره لکسمبرک له هغه ورسته ایرلینډ ، آیس لینډ، فن لینډ، ډنمارک او بیا کاناډا ده..په داسې حال کي چي اسلامي هیوادونو کي تر ټولو وړاندې مالیزیا ده چي په 38 نمبر کي راځي ، کویټ 48 ، بحرین 64 ، سعودي 131، پاکستان ، بنګله دېش او ایران له سعودي هم ورسته دي .تحقیقات څرګندوي چې مسلمانان په لمانځه ، روژه ، سنتو ، قران ، حدیث ، حجاب ، ګیره او لباس کي دیر محتاط دي لیکن په ریاستي قوانینو ، ټولنیز ژوند او معاملاتو کي په اسلام عمل نه کوي..مسلمانان د ټولو مذهبونو په نسبت په زیاته کچه وعظ او نصیحتونه اوري او هر مسلمان په ژوند کي تقریبا 3000 د جمعي خطبي اوري لیکن بیا هم خپل هیوادونه یي د نړي بهترین هیوادونه نه کړل ـ سید جمال الدین افغاني مشهوره وینا ده چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غــرب تــه لاړم اســلام مــي وموند پرتــه لــه مســلمانانو څخــه او شــرق تــه لاړم مسلمانان مي وموندل پرته له اسلام څخه!

آيـا کلــه مــو لــه ځــان څخــه دا پوښــتنه کــړي چــې د يهــودو او نــورو غيــر مسـلمو برائينډونه او توليدات ولي مشهور دي ؟

ځــواب واضــح دي ځکــه چــې کيفيــت او کــوالټي يــي د مســلمانانو لــه توليــداتو او مصنوعاتو بهتر وي..

اســلام يــواځې لمــونځ ، روژه او حــج نــدي بلکــي د ټــول ژونــد تيرولــو يــوه برنامه ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د مفلس تعريف بل ډول کړي

هغه د وينا مفهوم دي:

يــو مســلمان بــه لمونځونــه ، روژي ، حجونــه ، او نــور نفلــي عبــادات کــړي وي لــيکن بلــه پلــوه يــي خيانــت کــړي وي - پــه چــا بــه يــي ظلــم کــړي وي - لــه چــا بــه يــي مــال خــوړلی وي - چــا تــه بــه يــي ســپکي ســپوري ويلــي وي - پــه مــال کــي بــه يــي مــلاوټ کــري وي - احتکــار بــه يــي کــړي وي - د خپــل خــور حــق به يي خوړلي وي او داسي نور........

دا ډول مســلمان بــه نيکــي ختمــه شــي او جهــنم تــه بــه خــالي لاس لاړ شــی. دغــه مســلمان تــه مفلــس ويــل کيــږي چــې لــه بــده مرغــه الله تعــالی د مــونږ تــه مغفــرت رانصيب کړي زمونږ اکثريت مطلق مسلمانان دغه ډول دي.

دا نــن تاســو لاړ شــي او پــه لــس کيلــومتره مربــع کــي وګــوري پــه لســګونو جوماتونــه ، مدرســي او تعليمــي مرکزونــه بــه ومــومي لــيکن دغــه ټــول ســاحه کي به يو داسي مسلمان ونه مومي چې هر اړخيزه اعتماد پري وکړي.....

مشــهور ليکــوال او مفکــر لاډ برنــارډ د اوســني زمــاني مســلمانانو پــه هکلــه وايي:

اسلام بهترين مذهب دي او مسلمانان بدترين پيروکاره دي.

قــدرمنو ورونــو لــدي حقيقــت هــيڅ انکــار نشــي کيــدای چــې اســلامي امــت پــه اصــلاح او فســاد کــي تــر ټولــو لــوي کــردار د علمــاوو دي - علمــاء پــه امــت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــي د مــالکي حيــث لــري چــې مالګــه خپلــه خرابــه شــي نــو امــت خــو بــه خامخــا بي خونده وي .

مولانــا ابــوالکلام ازاد پــه خپلــه تــذکره کــي مســلمانانو علمــاوو او پــه او مســلمانو دروغجنو روشنفکرانو په اړه وايي:

د مــذهب دوکانــدارنو جهــل ، تقليــد ، تعصــب او هــوا پرســتي تــه د مــذهب نــوم ورکــړی او د نــوي عصــري تحقيــق عقــل خرســونکو الحــاد او بــي بنــدوباري تــه د روښان خيالي او ترقی نوم ورکړی

بيا يي د فارسي دغه شعر ليکلي:

هم کعبه و هم بت کده سنگ ره ما بود

رفتيم و صنم بر سر محراب شکستيم

## د فرعون جسد:

د فرعون جسد او ډاکتر مارس د اسلام منل!

د مصــر پــه مــوزيم کــي يــو جســد پــروت دي چــې د هغــي پــه هکلــه څيړونکــو او محققينو منلي چې دا د موسي عليه السلام د زماني د فرعون جسد دي.

پــه بائبــل کــي هــم دغــي زمــاني فرعــون تــه د يوولســم رامــوس يــا رامــيس Rameses -11خطاب شوي دي.

پــر دغــه جســد د تحقيــق او څيړنــي دوران کــي د تحقيــق کــونکي ډلــي مشــر او مشـــهور لرغـــون پيژنـــدونکي او ســـاينس دان ډاکتـــر مـــارس اســـلام ومانـــه او مسلمان شو..

پــه 1898 کــي اکســر (مصــر) داســې يــو ښــار وو چــې د هغــه پــه هکلــه ويــل کيږي چې د پخواني فرعونانو پايتخت وو.

دغــه ځــاي تــه چــي د باچاهــانو مســکن هــم ويــل شــوي ، پــه اصــل د 1799 عيســوي کــال راهيســي د دغــي ســيمي مختلفــو ځــايونو کــي د تيــر شــوي اثــارو او ابــداتو لټــون روان وو چــې دغــه لټــون پروســې تــه يــو مشــهور ســياح او لرغون پوه وکټر لارټ ځانګړي جهت ورکړ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغــه وړود لټــون دوران کــي يــو جســد وموبــدل شــو چــې سملاســي قــاهره تــه انتقال شو..

پــه 1907 کــال کــي يــو ساينســدان الائتــه ســمته دغــه جســد پــوره مطالعــه کــړ او خپل ټول معلومات يي په خپل کتاب کي وليکل

لــه هغــي وروســته پــه همــدي لســيزه کــي يــو فرانســوي ساينســدان Maurice bucaileپــر دغــه جســد د تحقيــق پخــاطر لــه مصــري حکومــت څخــه اجــازه تــر لاســه کــړه او وويــل چــې دغــه جســد د دري زرو کــالو څخــه زيــات دي او نظــر يــي ورکــړ چــې بايــد د نــورو څيړنــو پــه موخــه فرانســي تــه د څــه وخــت لپــاره انتقال شي.

فرانســي تــه د انتقــال ورســته د فرانســي مانومنــټ مرکــز کــي د اروپــا لويــو سائنســدانانو پــري تحقيقــات وکــړل او د جســد د مختلفــو برخــو پــه شــمول يــي د ســيني او د خيټــي پــه داخلــی اعضــاوو هــم هــر ړخيــزه تحقيقــات او څيړنــې تــر سره کړي..

دغــه تحقيقــاتو دوران کــي د څيړونکــو ډلــي مشــر ډاکټــر مــورس هغــه مهــال حيــران او پريشــانه شــو چــې ورتــه معلومــه شــوه چــې دغــي جســد مــرګ لامــل په أبو کي د غرقيدو له وجې شوي.

هغــه دا ټولــه موضــوع د خپــل کتــاب Bible, Quran and Scienceپــه څلوېښتمه صفحه کي ذکر کړي هم ده..

ســاينس دانــان هغــه مهــال نــور هــم پريشــانه شــول او حيــران ول چــې دا جســد د أبو د موجونو او څپو څخه څرنګه دغه ډول سالم پاتي شوي ؟

ناڅاپــه د ټــيم يــو غــړی وويــل: دا خبــره خــو مســلمانان کــوي چــې زمــونږ کتــاب کي پدي هکله ليکل شوي نو ځکه دا څه نوي خبره نده!

ســاينس دانــانو يــو ځــل بيــا د ځــان څخــه پوښــتني شــروع کــړي! کــه مســلمانان وايــي چــې پــدي هکلــه زمــونږ کتــاب کــي ليکــل شــوي نــو دا معلومــات څرنګــه کتاب ته انتقال شول ؟ قران ته د دغه جسد حقيقت څرنګه معلوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغــه څــه ول چــې ســاينس دانــان پــري مسلســل حيــران او پريشــانه ول.. ســاينس دانــانو حتــي ډيــري شــپي پــه ويښــه تيرولــي او پــه حيرانتيــا يــي دا پوښــتني كــولي چــې آخــر قــرآن تــه دا څــه ډول معلومــه شــوه؟ پداســې حــال كــي چــي دا جسـد پـه 1898 كـي مونـدل شـوي او مـونږ لـه ډيـرو مـاډرن څيرنـو او تحقيقــاتو وروســته پــه 1975 كــي معلــوم كــړه چــې دغــه فرعــون مــرګ پــه أبــو كـي د غرقيـدو لـه املـه شـوي.. او دوهـم دا چـې غـرق شـوي جسـد زمـوږ تـر زماني څرنګه راورسېد ؟

هغوي يقين درلود چې دوهمي پوښتني ځواب شايد قرانكريم نه وي!

هغــوي فيصــله وكــړه چــې لا زيــاتو معلومــاتو لپــاره د آســماني كتــابونو مطالعــه پيل كړي،

هغــوي د بائبــل Bible پــه exodusچپټــر كــي - څوارلســم بــاب 28 آيــات كــي لاندي مفهوم وموند ..

د هغــو څخــه اوبــه تــاوي شــوي او د فرعونــانو څخــه هيڅــوک ژونــدي پــاتي نــه شول.

بيــا هغــوي د تــورات د برخــي Psalmsپــه 106 نمبــر بــاب او 9 او 10 اياتونو دا مفهوم ولوست.

موســى حكــم وكــړ چــې تاســي وچ شــي ، د موســي ملګــري پــه حفاظــت ســره بلي غاړي ته ورسيدل او د فرعونانو څخه هيڅوک ژوندي پاتي نه شول.

لــيكن ډاكټــر مــارس( Maurice bucaile)بــه دا پوښــتنه كولــه چــې پــه بائبــل او تــورات كــي دا نــدي ويــل شــوي چــې د فرعــون جســد څرنګــه د دريــاب لــه څپــو څخــه محفــوظ پــاتي شــو او مــونږ تــه راورســيد ؟ همدارنګــه څرنګــه پرتــه د حفــاظتي مــوادو د نــورو فرعونــانو جســدونو پــر خــلاف تــر اوســه محفــوظ دي؟

حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ته پدي هكله چا وويل ؟

بــالاخره ډاكټــر مــارس پــه 1975 كــال ســعودي عربســتان تــه ســفر وكــړ او پــه يــوه نړيــوال طبــي خبــري كنفــرانس كــي ګــډون وكــړ ، هغــه اعــلان وكــړ چــې لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحقيقــاتو او مطالعــاتو وروســته معلومــه شــوه چــې دغــه فرعــون مړينــه د أبــو د غرقيدو له امله شوي.

دا خبر په نړيواله ميډيا کي لکه د ځنګل اور سملاسي خپور شو..

همدارنګــه ډاکټــر مــارس پــه خبــري کنفــرانس کــي د خپــل ټــيم تحقيقــاتو پــانې ولوســتي او وويــل : دا هماغــه فرعــون دي چــې پــه يوولســم رامــوس Rameses مشهور او د موسي عليه السلام په تعاقب کي وتلي وو..

هغــه دا پوښــتني بــار او بــار تکــرار کــړي چــې دا جســد مــونږ تــه څرنګــه محفوظ او سالم راورسيد ؟

هغه بيا د قرآنکريم د سورة يونس 90- 91 او 92 اياتونه تلاوت کړ..

چــي پــه هغــه کــي د فرعــون د مړينــې تــذکر شــوي او الله تعــالی وايــي چــې د هغه جسد لدي لپاره محفوظ ساتم چي خلکو ته عبرت نبنه وګرځي..

( تاســو کــولای شــي دغــو مبــارکو ايتونــو ترجمــه او تفســير پــه تفصــيل ســره ولولي)

دغــو ايــاتونو لوســتلو ســره ډاکټــر مــارس لــه خپلــه ځايــه پاڅيــد او د خلکــو او ميډيا پر وړاندي يي د شهادت کلمه وويله او د خپل اسلام اعلان وکړ..

هغــه وويــل: مــا تــه دغــو پښــتنو ځــواب يــواځې قرآنکــريم راکــړ نــو ځکــه د هغــه په حقانيت باورمند شوم او د قرآن کريم په حقانيت ګواهي ورکوم.

د ډاکټر مارس سره د هغه کورنی هم مسلمانه شوه.

## فندوق:

د مــزدور ، مســکين ، غريــب او يتــيم لپــاره هغــه صــدقه چــي د څــوارلس ســوه کاله راهيسي روانه ده!

دا بلــډنګ پــه غــور ســره وګــوري ! پــه عربــي ژبــه پــري لانــدې جملــه ليکــل شوي :

فندوق وقف عثمان بن عفان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعني:

د حضرت عثمان بن عفان رضي الله تعالی عنه لخوا وقف شوي هوټل.

د مسلمانانو دريم خليفه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم زوم چې په ذي النورين مشهور دي ، د يوي او بلي مېرمني ورسته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دوه لورګانو خاوند وو..

د هغه ملکيت او سرمايه اوس هم په مدينه منوره کې موجوده ده. اوسمهال سعودي حکومت لخوا پري يو هوټل جوړ شوي او عايد په مسکينانو ، غريبانو او يتيمانو صدقه کيږي

د سعودی په يوه بانک کې د دريم خليفه حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه په نامه يو کرنټ اکاونټ موجود دي ، د سعودي حکومت د جايدادونو او ځمکو اداره کې د حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه په نامه جائداد ثبت دي او د جايدادونو د أبو ، برق او نور بلونه د حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه په نامه راځي.. د حضرت عثمان رضي تعالی عنه په دغه صدقه جاريه کې يو هم د هغه په نامه مسجد نبوی ته نږدي دغه ښکلي هوټل دې او تر اوسه يي صدقه جاريه ده . د هغه د ښه او پاک نيت او رسول صلی الله عليه وسلم دعا له برکته...

کله چې مسلمانانو مديني منوري ته هجرت وکړ هلته د څښلو پاکو اوبو ډير زيات کمي وو ،.

په مدينه کې د يوه يهودی کوهي وو چې په مسلمانانو به يي اوبه په لوړه بيه خرسولي چي هغه کوهي په ,, بيئر رومه,, مشهور وو..

مسلمانانو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته شکايت وکړ او د خپل مشکلاتو يي خبر کړ..

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې دغه کوهي واخيست او مسلمانانو لپاره يي وقف کړ الله تعالی به د هغه مقابل کې په جنت کې چينه ورپه برخه کړي..

حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه د هغه يهودي لوري ته لاړ او د کوهي اخيستنې خواهش يي وکړ ليکن يهودي انکار وکړ، حضرت عثمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

رضـــي الله تعـــالی عنــــه د يــو بــل تــــدبير څخـــه کــار واخيســـت او ورتـــه وويـــل: دغــه کــوهي نــيم پــر مــا راخــرس کــړه يــوه ورځ يـــي اوبــه ســتا وي او بلـــه ورځ به يي زما وي..

يهــودي لالــچ کـــي راغلـــی او پــدي فکــر شــو چـــې شــايد پـــه خپلـــه ورځ حضـــرت عثمــان رضـــي الله تعــالی عنــه اوبــه تــر مــا قيمتــه خرســي کــړي نــو زمــا لپــاره بــه د أبــو قيمتـــه خرســـون زمينـــه نـــوره هـــم برابـــره شـــي ، هغـــه دا اټکـــل کـــاوه چـــې شـــايد حضـــرت عثمـــان د هغـــه ګټـــي تـــه پـــه ليـــدو د تجـــارت پـــه پـــار کـــوهي اخيستني خواهش کړي وي

بـــالاخره نـــيم يـــي پـــه حضـــرت عثمـــان رضـــي الله تعـــالی عنـــه خـــرس کـــړ.. حضـــرت عثمـــان رضـــي الله تعـــالی عنـــه پـــه خپلـــه ورځ ټـــولي اوبـــه د مـــديني خلکـــو تـــه وقـــف کـــړي ، خلکـــو بـــه د حضـــرت عثمـــان پـــه ورځ مفتـــي اوبـــه کورونـــو تـــه پـــه دومـــره انـــدازه يـــوړي چـــې دوهمـــي ورځـــې لپـــاره بـــه يـــي هـــم ذخيـــره کـــړي ، د يهـــودي پـــه ورځ بـــه هـــيڅ څـــوک هـــم کـــوهي تـــه نـــه تلـــل ، کلـــه چـــي يهـــودي خپـــل تجـــارت پـــه تـــاوان کـــي وليـــد نـــو حضـــرت عثمـــان رضـــي الله تعـــالی عنـــه تـــه يـــي ټـــول کـــوهي پـــه ډبـــل قيمـــت د اخيســـتې پشـــنهاد وکـــړ ، حضـــرت عثمـــان رضـــي الله تعـــالی عنـــه هـــم راضـــي شـــو او ورتـــه وويـــل لـــه دغـــه قيمـــت څخـــه يـــي زيـــات اخلـــم.. يهـــودي ورتـــه وويـــل دري برابـــره ، حضـــرت عثمـــان ورتـــه وويـــل لـــدي هـــم زيـــات - تـــر څـــو چـــې لـــس چنـــده تـــه ورســـيد - او پـــه لـــس چنـــده قيمـــت يـــي تـــري واخيســـت او حضـــرت عثمـــان رضـــي الله تعـــالی عنـــه وفرمايـــل: اوس بـــه الله تعـــالی لـــس چنـــده ثـــواب راکـــوي او ټـــول يـــي مـــديني منوري خلکو ته يي وقف کړ..

د وخـــت پـــه تيريـــدو ســـره خـــوو شـــاه ځمکـــي هـــم حضـــرت عثمـــان رضـــي تعـــالی عنـــه واخيســـتلي پـــه مـــرور د زمـــان ســـره هلتـــه د خرمـــاوو بـــاغ جـــوړ شـــو چـــې عثمـــاني خلافـــت دوران کـــي بـــه دغـــه بـــاغ ســـاتنه کيدلـــه چـــي بـــالاخره د ونـــو تعـــداد 1550 تـــه ورســـيدي او دا ټـــول حاصـــلات او لـــه أبـــو اســـتفاده غريبـــانو تـــه وقـــف وه

د ال ســـعود کـــورنۍ حکومـــت راتللـــو ســـره دغـــه بـــاغ د حضـــرت عثمـــان رضـــي الله تعـــالی عنـــه پـــه نامـــه ثبـــت شـــو او عايـــد بـــه يـــي د هغـــه پـــه نامـــه اکاونـــټ کـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمع کیده چې بلاخره دومره مبلغ ټول شو چې مسجد نبوی سره نږدي په مرکزي سیمه کي یو ځمکه پري واخیستل شوه او بیا د هغه په نامه حاجیانو او معتمرینو لپاره یو هوټل جوړ شو چې تقریبا هر کال پنځوس ملیونه عاید لري چې دا عاید په مسلکینانو ، غریبانو او یتیمانو مصرفیږي..

جلیل

## صرف پنځه ثانیي :

✓ که چیري زمکي پر سر صرف پنځه سانیي- صرف پنځه سانیي آکسیجن غائب شي ؟؟

مونږ یواځې یوي دقیقي پوري ساه بندولي شو لیکن دا زمونږ خبره نده د ټولي زمکې ده _ چې په ټوله زمکې کي صرف پنځه سانیي آکسیجن غائب شي

نو ؟؟؟

د سمندرونو په خواوو کي به ټول خلک اور واخلي ځکه چې په هوا کي موجود مالیکیولر اکسیجن دي چې مونږ د الټراوائلټ روښنایي څخه ساتي او بچ کوي

په رڼا ورځ به آسمان تور شي او هر لوري ته به تیاري شي او هیڅ به نښکاري!

دا ټول جدا جدا ځیزونه به فورا سره یو ځای شي یو بل سره به ویلډ شي ځکه چې هوا کي موجود اکسیجن له امله دغه ټولو ځیزونو یو ځای کیدل مخه نیول شوي.

د ځمکي پنځه ځلویښت فیصده حصه له اکسیجن څخه جوړه شوي - څرنګه چې اکسیجن غائب شي دا زمکه به ټوله ګرد او غبار شي او قدم اخیستل به مشکل شي ، مونږ به د هوا یوویشت فیصده دباو له لاسه ورکړو لهذا زمونږ د غوږونو پردي به فورا وشریږي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زمکه کې د کنکريټ د جم او جامد کيدو کې اکسيجن مرسته کوي که چېرې اکسيجن غائب شي د کنکريټو جوړ تول ساختمانونه پر ځکه بوس ډول شي او وبه غورزيږي.

اکسيجن د أبو نيمه حصه ده که اکسيجن غائب شي د دنيا ټولو سمندرونو اوبه به هايدروجن ګيس شي وليم به يي زيات شي او ګيس به فضا ته لاړ شي.

او که چېرې اکسيجن ګيس د خپل مقدار او اندازي دوه برابره شي البته يو اځې پنځه سانيي؟؟

نو؟؟

زمونږ کاغذي جهاز به هوا کي تر ډيره وخت الوزي

زمونږ ګاډي به موجود پټرولو زيات ليټره وچليږي

مونږ به زيات خوشحاله او چالاکه اوسو

زيات اکسيجن سره به زمونږ د بدن پټي مظبوطي شي او مونږ به بهترين جمناسټيک کولای شو او جسماني کارکردګۍ به مو اضافه شي

ليکن

په زمکه هره حشرات الارض لکه د فيلانو ګرځي ، دا کانکوچ ، سپږي او واړه ميږي ، مچان چې تاسو ګوري هر يو به لکه د ميخو هم لويي لويي وي او يو د ډار او ويري فضا به جوړه شي

ځکه چې حشرات الارض جسامت سايز فضا کي موجود د اکسيجن تر مقداره منحصر دي

او داسي نوري ويرونکي تغيرات به راشي چې د ليکني ورد والي له امله مي پريښودل.

بس حمد او ثنا هغه ذالجلال رب العزت ته ده چې هر څه يي په خپله اندازه او مقدار پيدا کړي....

وَكُلُّ شَىۡءٍ عِنۡدَهٗ بِمِقۡدَارٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ

## فرانسوي ماډله :

د مشهوري فرانسوی ماډلي مارين الحمير څخه چا پوښتنه وکړه چې ته کومي خبري متاثره کړي چې اسلام دي قبول کړ؟

هغه ځواب ورکړ ډيري مطالعي او څيرني تر څنګ چې ما خپل نفس ته مراجعه وکړه او همدارنګه مي خپل ژوند ته لومړيتوبه وټاکل نو زه مسلمانه شوم هغه زياتوي دغي واقعي زه ډيره متاثره کړي يم ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم مجلس کي ډير خلک ناست ول، يو شخص پاڅيد او غوښتنه وکړه چې يا رسول الله ما ته دعا وکړه زما ماشوم ځوي له څو ورځو راهيسي بي درکه دي نه موندل کيږي!

مخکې لدي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه دعا وکړي مجلس کي ناست يو بل شخص اوچت شو او وويل: يا رسول الله زه اوس د فلاني باغ تر څنګ تيريدم دا ماشوم مي له نورو ماشومانو سره يو ځای وليد چې لوبې کولې!

کله چي ماشوم پلار دا خبره واوريده په خوشحالۍ او په منډه هغه باغ لوري ته روان شو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ايسار شه او هغه يي بيرته راوغوښت!

هغه شخص رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: يا رسول الله ته ښه پوهيږي چې د يوه پلار احساسات څرنګه وي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ښه پوهيږم ليکن ستا د رابللو مقصد دا دي او بيا يي وفرمايل: کله چي باغ ته ورسيدي د ځويه ! ځويه ! غږ پري مه کوه بلکي په خپل نوم يي راوبوله!

هغه شخص وويل: يا رسول الله هغه زما ځوي دي د ځوي وينا کي څه حرج دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم ورتـه وفرمايـل: د څـو ورځـو بـې درکـې لـه املـه سـتا پـه لهجـه کـې هغـه تـه د مينـې او درد کيفيـت دي او تـه پـوهيږې چـې لوبـو کونکـو ماشـومانو کـې بـه کـوم يتـيم هـم وي کـه چېـرې سـتا لهجـه کـې هغـه تـه خـوږوالى زيـات وي هغـه يتـيم زړه تـه صـدمه رسـيږي او ارمـان کـوي چې اي کاش زما پلار ژوندي واي چې ما ته يي هم زويه ! ويلي واي،

کور ته ماشوم بوزه خپل شوق هلته تر سره کړه.

رسـول وفرمايـل: د بـل چـا ميـرمن پـر وړانـدې خپلـې ميرمنـې سـره محبـت مـه کـوي، همدارنګـه رسـول خلـک منـع کـړي چـې غريـب پـر وړانـدې خپـل دولـت نمـايش مـه کـوي ، د خپـل کـور د غوښـې خوشـبويي څخـه همسـايه مـه تنګـوي ،

محترمـو ورونـو: اختـر ورځـې راروانـې دي کـه هـر يـو دا فکـر وکـړو چـې اقـلا يـو يتـيم ځـان سـره پـه خوشـحالۍ کـې ځرنګـه شـريک کـړو کيـداي شـي دا عمـل مـو د ښنـي سـبب شـي هـيڅ نـده معلومـه کيـداي شـي زمـونږ د ډيـرو دا اخرنى اختر په دنيا کي وي..

( يو اځې مي د هغي خبري نقل قول کړي)

## د قسطنطنيي فاتح :

اناطوليي يو شيخ له له خپلو دري شاګردانو پوښتنه وکړه ؟

شـيخ: کـه چېـرې يـوي لـويي او تنـاوري ونـې د تبرګـې پـه واسـطه د چپـه کولـو لپاره دري ساعته وخت درکړ شي تاسو څه کوي؟

☜ لمـړي شـاګرد: مـونږ خپـل ټـول زور مصـرفوو چـې دري سـاعتو دوران کي ونه چپه کړو!

شيخ: که تبرګي يي برداشت نه کړي او مات شي؟

☜ دوهـم شـاګرد: مـونږ بايـد لـه هـر لـوري ونـه ووهـو او حوصـله يـې چپـه کړو

شيخ: ليکن که دغه حالت کي دري ساعته وخت ختم شي بيا ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

☜ دریم شاګرد: زه په یو نیم ساعت کې تبرګي ښه تیزوم لاستي به یې مظبوط کوم او پاتې یونیم ساعت کې په آساني ونه چپه کوم.

دریم شاګرد بل څوک نه وو بلکې د قسطنطنیي سلطان محمد فاتح وو ، هغه محمد فاتح چې د رسول الله صلی علی وسلم د بعثت څخه اته سوه کاله ورسته قسطنطنیه فتح کړه او ځان یې د هغه حدیث مصداق کړ چې رسول الله صلی علیه وسلم د قسطنطنیي د فتحی لښکر او فاتح ته د عظیم لښکر او عظیم فاتح لقب ورکړي

محترمو ورونو تاسو ته معلومه د چې خلفاوو راشیدینو له وخت څخه نیولې د اموي او عباسي خلافت دوران کې د صحابوو په شمول په لسګونو ځل د روم امپراتوري مرکز قسطنطنی ( اوسني استنبول) د فتحی په پار په لسګونو حملې وشوي او هر یو قائد او لښکر کوښښ کاوه چې د رسول الله صلی علی وسلم د حدیث مصداق شي لیکن د قسطنطنیي د جغرافیایي موقعیت ، موسمي حالاتو او سختو دفاعي دیوالونو او خندونو له امله بریالي نه شول چې حتي د جلیل القدر صحابي او د رسول میزبان حضرت ابو ایوب انصاري ( مریضی له امله) په شمول په لسګونو صحابه او همدارنګه اته سوه کالو دوران کې په لسګونو زه مجاهدین شهیدان شول لیکن قسطنطنیه یې فتح نشو کړاي

عثماني خلیفه محمد فاتح په یوویشت کلنی کې له جګړي مخکې دوه ستراتیژي خپلي کړي

لمړي: د قسطنطنیي د دریو مضبوطو دیوالونو او محکم دفاعي سیستم له منځه وړلو لپاره د وخت تر ټولو عصري او ماډرن جوي او بحري اسلحي حصول چې لدي لپاره یې د هنګري هیواد یو انجینر اوربل خدمات خپل کړل او د یو سوپر توپ په شمول یې ځلوېښت لوي توپونه جوړ کړل

دغه صنعت جوړوني لپاره یې د خلافت نور اخراجات او مصارف کم کړل او یوه ځانګړي او ګزافه بودیجه یې دفاعي جوي او بحري صنعت جوړوني ته ځانګړی کړه.په سلګونو وړي او لویي بحري بیړی جوړي کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهـم: د عـام او قبـایلي فـوځ تـر څنـګ یـي ځـانګړي فـوځ چـې عسـکري ،فکري او نظریاتي ډول ټرینګ شوي وه ایجاد کړ..

هماغـه وو چـې د پیړیـو پیړیـو ورسـته یـي د قسـطنطنیي سـخت او مشـکل دفاعي سیستم ورمات کړ او د فتح تاج خپل کړ..

محترمـو ورونـو: تـر څـو چـې مـن حیـث امـت د وخـت د سـاینس او تیکنـالوژي میـدان کـې خپلـه برتـري لاس تـه راوړنـو او الله تعـالی لـوري تـه رجـوع ونـه کـړو او یـا داسـې عقیـده لـه خپـل ذهـن ونـه باسـو چـې فضـا یـي د کفـارو لخـوا اشـغال وي او دا وایـي چـې عصـري علومـو زدګـړه مبـاح ده.. نـو ذلالـت څخـه خلاصون خیال است ، محال است ، جنون است...

## تاتاري شهزادګۍ :

د هلاکـو خـان لـور پـه بغـداد ښـار کـې چکـري وهلـي چـې پـه یـوه ګڼـه ګونـه یـي سترګي ولږیدي..

پوښتنه وکړه چې دا خلک څرنګه راغونډ شوي؟

ځواب ورکړ شو : یوه ځایي عالم ته خلک راغونډ شوي.

حکـم وکـړ چـې عـالم زمـا حضـور تـه وړانـدی کـړي ، عـالم د تاتـاري شهزادګۍ مخې ته حاضر کړل شو..

شهزادګۍ عالم ته: آیا تاسو په الله تعالی ایمان نلري ؟

عالم: یقینا مونږ په الله تعالی ایمان لرو

شـهزادګۍ: آیـا تاسـو دا ایمـان نلـري چـې الله تعـالی چـا تـه چـې وغـواړي غلبـه ورکوي؟

عالم: یقینا دا زمونږ ایمان دي.

شهزادګۍ: آیا پر تاسو یي مونږ ته غلبه رانه کړه؟

عالم: یقینا تاسو ته یي غلبه درکړه

شـهزادګۍ: آیـا دا د دي خبـري ثبـوت نـدي چـې الله تعـالی لـه تاسـو پـه نسـبت مونږ خوښوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالم: نه

شهزادګۍ: څرنګه ؟

عالم: تا کله د حیواناتو رمه لیدلي ؟

شهزادګۍ: هو ما لیدلي!

عالم: آیا تا د رمي وروسته یو تعداد سپي لیدلي؟

شهزادګۍ: هو ما لیدلي

عالم: که چېرې یو اندازه پسونه خپل خاوند پرېږدي او بل لوري ته لاړ ي شي نو بیا خاوند یي څه کوي؟

شهزادګۍ: سپي ورپسې پرېږدي چې بیرته یي د خپل خاوند لوري ته متوجه کړي او راوګرځوي

عالم: تر څو به دغه سپي ورپسې منډي وهي ؟

شهزادګۍ: تر هغې چې خپل خاوند لوري ته ورشي..

عالم: تاسو هم د هغه سپو حیثیت لري تر څو چې مونږ خپل خاوند ( الله تعالی) لوري ته لاړ نشو او د هغه اطاعت خپل نه کړو تاسو سپي به پر مونږ مسلط یاست او مونږ ته الله تعالی ویلي چې ګناه او سرکشي په صورت کي عزت نه درکوم..

کله چي مونږ الله تعالی لوري رجوع وکړه په هغه ورځ به ستاسو وظیفه ختمه شي..

بس ورونو : دغه حالت د اسلامي امت دي تر څو چې الله تعالی ته په رښتني ډول رجوع ونه کړي لکه اسراییل ، امریکا او نور سپي به په مونږ مسلط وي.....

(تاریخ بغداد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وچي دعاوي :**

دا د پــب جــي ګــيم کومــه مصــنوعي صــحنه نــده - بلکــي د فلســطين مظلومــو خلکو ته د خوراک غورزوني صحنه ده!

پــه 57 اســلامي هيوادونــو ، نيمــه اســلامي ، شــاهي او د نــړي اکثــرو ســيکولر هيوادونــو کــي دومــره همــت نشــته چــې غــزي تــه د زمکــې او ســمندر د لاري خوراک او ځښاک ولیږي..

دا نــاچيزه خــوراک هــم د اســرايیلي اســتخباراتو او روزل شــوي ســپو معــاینې وروسته د اجازي په صورت کي غوځول کيږي..

کــه دغــه ډول بــې همتــي روانــه وي نــو هغــه مظلــوم فلســطنيان چــې د مرميــو او بمونــو لــه املــه تــر اوســه مــړه نشــول د لــوږې لــه املــه بــه ژونــد د لاســه ورکړي..

ځــه فکــر کــوي چــې پرتــه لــه همتــه زمــونږ وچــي دعاګــانې او ژړا ګــاني بــه د معصــومو فلســطنيانو لــوږه ختمــه کــړي ؟ هغــوي ماشــومان بــه مــاړه کــړي ؟ آيــا هغــه بمونــه او ميزايــل چــې پــه هغــوي غورځــول کيــږي هغــه بــه پــه هــوا کــي معلق او معطل کړي؟

دا ژړاګــاني او دعاګــانې خــو د حرمينــو پــه شــمول پــه ټولــه اســلامي نــړي کــي له تير اتيا کلونو راهسې له هر لمانځه وروسته رواني دي!

دا دعاګــانې او ژړا ګــاني خــو د حــج پــه مليــوني اجتماګــانو کــي لــه اتيــا کلونــو راهسي کوو..

دا وچــي دعاګــانې او ژړا ګــاني خــو لــه تيــر اتيــا کــالو راهيســي پــه هــره وړه او لويه غونده او مجلسونو کي کوو..

جنــاب عــالی! کــه د اســماعيل عليــه الســلام غــاړه چــاړه پــري نــه کــړه لــيکن ســتا پري کوي!

که ابراهيم عليه السلام اور ونسيزه ليکن تا سيزي!

که موسي عليه السلام أبو غرق نه کړ لېکن تا غرقوي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د فطـــرت ديـــن دي ، دلتـــه د ديـــن تعليمـــات نـــور دي. دلتـــه د خـــارق العـــاده كـــارونو پـــه طمعـــه ژونـــد مـــه كـــوي. دلتـــه بـــه د دريـــاب ظـــالمو ځپـــو هغـــه څـــوک نجات مومي چې د ظالمو ځپو پر وړاندې يي لامبو زده وي..

د چا لامبو نه وي زده هغه د درياب د ځپو خوراک شي..

هغه يواځې د انبياوو لپاره ځانګړي معجزې وي..

تعلـــيم حصـــول فـــرض دي، معيشـــت او اقتصـــاد رشـــد لازم دي ، كارخـــاني او فـــابريكې جـــوړول لازم دي، تكنـــالوژۍ او ســـاينس زدګـــړه او حصـــول فـــرض ده ، د خلا او فضا تسخير فرض دي. اتحاد او اتفاق فرض دي ،

جګـــړه او مـــړه كيـــدل اســـانه دي لـــيكن دغـــه پـــورتنى مقـــام تـــه رســـيدل ســـخت دي ، د الله تعـــالى او رســـول پـــه محبـــت كـــى مـــرګ يـــواځېني مقصـــود نـــدي بلكـــي د الله تعالى او رسول محبت او اصولو كي ژوند تر ټولو لوي مقصد دي

وَ أَعِـدُّوا لَهُـمْ مَـا اسْـتَطَعْتُمْ مِـنْ قُـوَّة وَ مِـنْ رِبـاطِ الْخَيْـلِ تُرْهِبُـونَ بِـهِ عَـدُوَّ اللهِ وَ عَدُوَّكُمْ.

دلتـــه يـــي اعـــداد او تيـــاري پـــه مـــادي وســـائلو او د وخـــت اســـلحي پـــه حصـــول پـــه اســـاس فـــرض كـــړي لـــدي لپـــاره چـــې دښـــمن درڅخـــه وويريـــږي او پـــري غالـــب شي..

دا حاصل كړه بيا د الله تعالى د مرستي او كمک په طمعه شه

لـــيكن د نـــن دښـــمن پرتـــه لـــه تيكنـــالوژي ، ســـاينس ، علـــم ، فضـــا او خـــلا تســـخير ، پيـــاوړي اقتصـــاد ، وحـــدت او مطلـــوب ايمـــان لـــه تـــا نـــه ويريـــږي او نـــه پـــري پوره بريالیتوب حاصولي شي..

او داســـې بـــه ذليلـــه وي لكـــه اوســـني اســـلامي نـــړۍ د واړه اســـرايیل پـــه وړانـــدې ذليله ده.

## رحمة العالمين:

كلـــه چـــي د ابوجهـــل څـــوي ايمـــان راوړلـــو لپـــاره راتلـــه رســـول الله صـــلى الله عليـــه وســـلم ټـــول صـــحابه رضـــي الله تعـــالى عـــنهم كينـــول او ورتـــه وويـــل: مـــا تـــه خبـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسيدلي چې عكرمه د ايمان راوړلو لپاره راځي تاسو زما خبري واوري!
صحابوو وويل: يا رسول الله حكم وكړه..

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه په وړاندې به د هغه پلار ته غوصي نه كوي. د هغه په وړاندې به د پلار پسي بدي ردي نه وايي.. لكه ځرنګه چې زما د امت فرعون خطاب ابوجهل ته وركړ شوي. د هغه په وړاندې به دا نه وايي.

حضرت ابوبكر صديق رضي الله تعالى عنه په دغه ورځ دومره وژړل چي ګيري له وښكوو لمنده شوه او دا خبره تكراروله. ځوك به هغه ته كافر نه وايي ځكه چې د هغه ځوي ته تكليف ورسيږي ، ځوك به د ابوجهل ظلمونو تذكر نه كوي ځكه چې ځوي ته يي تكليف رسيږي ، ځوك به د ابوجهل په هكله زما قول نه induce وايي ځكه چې ځوي ته يي تكليف رسيږي..

كله چي حضرت ابوبكر صديق رضي الله تعالى عنه ژړا زياته شوه حضرت ابي دردا رضي الله تعالى عنه ورته وويل: ولي دومره ژاړي ؟

هغه وفرمايل: زما محبوب ته وګوره ځرنګه رحمة العالمين دي نن د هغه چا استقبال لپاره تياري كوي چې ټول عمر يي هغه ته اذيت رسولي...

ورونو: زمونږ ټولو تعامل بيا د عامو مسلمانانو په هكله سرچپه دي ټوله وځ ګورو چي مسلمانانو كي خامي او تشي پيدا كړو او د خلكو پر وړاندې رسوا او ذليل كړو.. هره ورځ ورته په اداراتو او منبرونو پيغورونه وركوو..

د مسلمانانو ذليله كولو كي له عامو خلكو نيولي حتي دين ته منسوب يو شمېر مذهبي مشران هم ونډه لري...

حضرت عكرمه رضي الله تعالى عنه بيا د يرموك په جګړه كي په شهادت ورسيد..

الله تعالى د اول ما ته هدايت وكړي.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عزيزيه مدرسه :

يـــو شـــمېر نجـــوني پـــه ډېـــر نـــاز او نخـــرو د عزيزيـــه مدرســـي تـــر څنـــګ تيرېدلې...

د شـــاه محمد اســـماعيل شـــهيد ســـترګې پـــري ولږېـــدي... پوښـــتنه يـــي وکـــړه دا څـــوک دي ؟ ملګـــرو ورتـــه وويـــل: دا ســـندرغاړی ، نڅـــاګري او کنجـــري دي او کـــوم ځانګړې د فحشا محفل ته رواني دي

شاه صاحب ورته وويل: د کوم مذهب پوري تړاو لري؟

هغـــوي ځـــواب ورکـــړ: دوي اســـلام د بـــدنامي ســـبب ګرځېـــدلی او ځـــان تـــه مسلمانانې وايي.

شـــاه صـــاحب چـــې کلـــه دا خبـــري واوريـــدي نـــو وويـــل: دا قبلـــوم چـــې بدعملـــه او بـــد کـــرداره دي لـــيکن د کلمـــه ويونکـــو پـــه حيـــث خـــو زمـــونږ مســـلماني خوينـــدي دي لهذا دوي ته بايد نصيحت وکړو ممکن له ګناهونو توبه ګاري شي ...

ملګـــرو ورتـــه وويـــل: پـــه دوي بـــه خـــاوري نصـــيحت اثـــر وکـــړي! دوي خـــو نصيحت کوونکي لا نور بدناموي....

شـــاه صـــاحب وفرمايـــل: نـــو څـــه بـــه وشـــي؟ زه خـــو خپلـــه فريضـــه ادا کـــوم.... کـــه خلک هر سنګه فکر کوي هغوي پوري اړه لري..

ملګـــرو ورتـــه وويـــل: ستاســـو تلـــل د هغـــوي ځـــاي تـــه مصـــلحت نـــدي! تاســـو تـــه معلومـــه ده چـــې تـــول هندوســـتان کـــی ســـتا مـــذهبي مخـــالفين شـــتون لـــری هغـــوي به ستا د بدنامولو هيڅ موقع د لاسه ورنکړي!

شـــاه صـــاحب وفرمايـــل: هـــيڅ پـــروا نلـــري تاســـو پـــدي اړه تشـــويش مـــه کـــوي. لـــدي وروســـته شـــاه صـــاحب درويشـــانه د ملنګـــانو لبـــاس واغوســـته او يـــواځې د هغـــو نڅـــاګرو نجونـــو حـــويلۍ لـــوري تـــه روان شـــو. شـــاه صـــاحب چـــې کلـــه دروازي تـــه ورســـيد نـــو پـــه لـــوړ آواز يـــي غـــږ کـــړ چـــې اي د الله تعـــالی بنـــدګانو! دروازه خلاصه کړي او د يوه فقير آواز واورئ!

آواز اوريـــدو ســـره څـــو نجونـــو دروازه خلاصـــه کـــړه ګـــوري چـــې نـــوراني درويش سپين ګيري دروازي ته ولاړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو فکر وکړ چې کوم فقیر سوالګر دي څو پیسې یې ورته ورکولې لیکن درویش اصرار درلود چې حولي ته د ننوتو اجازه ورکړ شي.. بالاخره شاه صاحب حولي ته ننوت...

شاه صاحب ګوري چې څلورو خواوو ته څراغونه روښانه دي.. د طبلو او زنګ جامن آوازونه دي ، هر لوري ته سندري او نڅاګاني دي او یو ځانګړي عجیب منظر دي...

کله چې ټولو نجونو په نوراني درویش سترګي ولړیدي هر لوري ته خاموشي شوه..

هغوي وپیژانده چې فقیرانه لباس کې درویش د هندوستان لوي عالم شاه اسماعیل شهید د حضرت شاه ولی الله رحمة الله علیه لمسي او د شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه وراره دي!

ټولي نجوني له خپله ځایه پاسیدي ، ځانونه یې راټول کړل او په ډیر آدب او احترام د شاه صاحب مخامخ کیناستي او وویل: حضرت شاه صاحب! تاسي ولی زمونږ ګنهګارو ځاي ته د راتلو زحمت وویست تاسو به څوک رالیږلي ول مونږ به خپله ستاسو خدمت ته راغلي وو..

شاه صاحب ځواب ورکړ: تاسو ټول عمر خلکو ته سندرې ویلي نن څو شیبې زمونږ فقیرانو آواز هم واري!

هغو په ډیر آدب ځواب ورکړ او وویل: مونږ په شوق او توجه ستاسو آواز اورو...

شاه اسماعیل شهید د سورت التین تلاوت پیل کړ د شاه صاحب تلاوت دومره پر سوزه ، وجد آفرین او دردمن وو چې آوریدو سره یو شمېر نجونې بې خوده شوي او خپل توازن یې د لاسه ورکړ لدي وروسته شاه صاحب د ایاتونو ښکلي ترجمه وکړه او خپله روح پروره وینا یې پیل کړه . شاه صاحب چې دعوتي پر کیفیته ژبه درلوده له ویناوو سره یې له سترګو دردمندي وښکوو بدرګه کیدلي.. د شاه وینا په نجونو دومره اثر وکړ چې بې اختیاره ژړاګاني پیل شوي یو شمېر نجونې بې هوشه شوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې شاه صاحب دغه حالت ولید د خپل وینا لوري بدل کړ او د توبې فضایل او د الله تعالی د رحمن او رحیم صفتونو په اړه او هغه موارد بیان کړل چې الله تعالی له خپل بنده څخه د توبې په اساس څومره خوشحالیږئ بیا د الله تعالی سره د دوستۍ او محبت فضایل ، واقعات او اجرونه یي بیان کړل..

په کومه طریقه ښاریانو ته دا خبر ورسېد.. خلک جوپي جوپي دروازي تر شاه راتول شول یو شمېر په دیوالونو وختل او غوښتل یي چي د شاه اسماعیل شهید بیان واوري..

شاه صاحب نجونو ته د اوداسه او دوه رکعته نفل لمونځ هدایت وکړ.. نجونې چې کله الله تعالی ته په سجده پریتوتي بل لوري ته شاه صاحب قبلې لوري ته ودرید او په لوړ آواز یي الله تعالی دغه ډول فریاد وکړ.. اي مقلب القلوب او مصرف الاحوال ذاته!

زه ستا د حکم د تعمیل لپاره دومره کولای شم چي ستا بندګاني نن تا ته په سجده پرتي دي.. ته د دوي زړونه پاک کړه.. ګناهونه معاف کړه.. ابرومند ژوند ورکول ستا لپاره هیڅ مشکل ندي.. ابرومند ژوند ورکړه .. هدایت ورنصیب کړه او په نیکو بندګانو کي یي شامل کړه....

یو لوري دعا ختمه شوه او بل لوري ته په سجده پرتو نجونو په سلګو سلګو د الله تعالی څخه د توبې ګاري شوي...

له همدې ورسته ټولو نجونو توبه وکړه.. د فحاشۍ هډه د تل لپاره بنده شو.. ځوانانو نجونو نکاح ګاني وکړي.. پاخه عمر لرونکو ښځو په خپلو کورنو کي خواري مزدوري پیل کړه...

په دغه نجونې کي تر ټولو ښایسته او مشهوره چې په موتي بیګم یادیده.... په خپل عبادت او د خلکو په اجتماعي خدمت کي تر ټولو مخکښ شوه.

څو کاله ورسته هغې د مجاهدینو ته د خوراک تیارولو کار په غاړه واخیست... په خپلو لاسو به یي خوراک تیارو.. ژوند یي دین ته وقف کړ په غریبانه او ساده لباس کي چا تري پوښتنه وکړه چې څه احساس کوي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـــي وويـــل: پـــه الله تعـــالی ســـوګند يـــادوم کلـــه مـــا هـــم د ژونـــد څخـــه دومـــره لطـــف او خونـــد نـــدي اخســـتي لکـــه څـــومره يـــي چـــې زه د الله تعـــالی بنـــدګانو پـــه خـــدمت کي اخلم...

قـــدرمنو ورونـــو: مـــونږ هميشـــه د ګنـــاه پـــر ځـــاي د انســـانانو نفـــرت کـــړي.. د خپلـــو ګنـــاهونو لپـــاره وکيـــل او نـــورو انســـانانو ګنـــاهونو لپـــاره قاضـــيان او مفتيـــان يو... هميشه خپل ګناهونه راته واړه او د نورو راته غټ ښکاري......

## کافر جاپان مسلمان افغانستان :

جاپان کي له تيرو ديرشو کالونو راهيسي د غلا قضيه نده راجستر شوي!

د پـــنځلس کلونـــو کـــي يـــواځي د يـــو پخـــوانی صـــدراعظم پـــه شـــمول ايلـــه دوه قتلونه شوي!

د زلزلـــي او ســـيلابونو وخـــت کـــي هـــر ډول ضـــرورتونه او خوراکونـــو پـــه عـــام ډول خلکـــو تـــه پـــه مخصوصـــو ځـــايو کـــي ايښـــودل شـــوي وي لـــيکن هـــيڅ څـــوک له خپل ضرورت زيات شيان او خوراک تري نه اخلی!

کـــه د ســـرک پـــر ســـر پـــه لســـګونو لکـــه پيســـې پرتـــي وي څـــوک لاس نـــه وروړي!

کـــه موبايـــل او لـــب تـــاپ درڅخـــه پـــه کـــوم ځـــای کـــي پـــاتي شـــول پـــه هماغـــه ځـــاي کـــي يـــي مونـــدلی شـــئ او يـــا يـــي مربوطـــه پوليســـو حوضـــه کـــي تـــر لاســـه کـــولای شئ د ورکيدو تصور هم نه کيږي!

کـــه چيـــري دی بـــل چـــا ســـره پـــه لـــوي لاس ځـــان ټکـــر کـــړ ښنـــنه درڅخـــه جاپـــاني غواړي!

د ســـګرټو فـــالتو بـــيخ پـــه جيـــب کـــي اچـــوي او بيـــا يـــي مناســـب ځـــاي تـــه د صـــفايي په خاطر رسوي!

د صـــفايي دومـــره خيـــال ســـاتي چـــې هـــر جاپـــاني وګـــړي روزانـــه د خپـــل کـــور مخه او کوڅه او د ابو ويالي خپله پاکوي!

په ټيکنالوژئ او ترقي کي له پرمختللو هيوادونو لس کاله مخکی دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشـــومان د خپلـــو اســـتادانو ســـره هـــره ورځ پـــنځلس دقيقـــې خپـــل ښـــونځي پاکوي!

هــر جاپــاني دومــره كــار كــوي چــې صــدراعظم ورنــه غوښــتنه كــوي چــې د كــار اندازه راکمه کړي.

د وخـــت پابنـــدي دومـــره ارزښـــت لـــري چـــې د پنځـــو دقيقـــو ريـــل ګـــاډي ناوختـــه رسيدو په جرم په ټوله کمپنۍ بنديز ولګيد!

د دري دقيقــو تــاخير لــه املــه د جاپــان حكــومتي هــوايي شــركت مشــر لــه دنــدې ګوښه او ټول کارمندانو له مسافرو رسمي ښښنه وغوښتله!

ميلمه پالنه ملي اخلاق ګڼل کيږي!

پــه كــور كــي خــادم تصــور هــم نشــته د اولادونــو پالنــه او خــدمت مــور او پــلار خپله كوي!

صـــفايي كـــونكي تـــه د صـــحت انجينيـــر ويـــل كېـــږي او د جاپـــان تـــر ټولـــو لـــوړ معاش وركول كيږي او د قومي اتل خطاب ورته كوي!

پــه جاپــان كــي دو نمبــرى ، مــلاوټ او دوكــي تصــور هــم نــه كيــږي خلــك اصلا دا خبري نه پيژني!

دا هغه جاپان دي چې مونږ ورته كافر ملک وايوو!

ليکن زمونږ هيواد چې د اسلام په نامه يادېږي...

په لکونو ديني او مذهبي مشران لرو!

هر کال لويي لويي تبليغي اجتماګاني او دعوتی سفرونه کيږي!

هــر كــال پــه لســگونو زره علمــاء فارغــان كيــږي او دســتار بنــدي لــوي لــوي غونډي کيږي

په هره کوڅه کي يو مسجد دي او هره علاقه کي په لسګونو مدرسې دی!

هر کال په لکونو خلک حج او عمرې ته ځي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هره علاقه کې درس قران او درس حدیث په لوډسپیکرونو کې روان وي!

په عاشورا ورځو کې د غم حسین له امله هر کال لسګونه زره اهل تشیعه مسلمانان ځان په وهلو سره ځانونو نه د بسو خسی جوړي!

د اخترونو او جمعو کي لويي لويي د لمونځونو اجتماعات تر سره کيږي!

د هر چا په لاس کي د ذکر لپاره تسبيح ليدل کيږی!

کافر جاپان په نړیوال پاکي, امانت داری او دیانت داري کې لمړي مقام لري او مونږ چې تير کال مو 150 مقام درلود چې اوسني کال کې د اسلامي امارت موجوديت 162 نور ښکته شو...

آيا کله مو له ځان نه پوښتنه کړي چې دا ولي داسې يو؟

حقيقت دا دي چې هميشه مونږ ځان ته دوکه ورکړي !

مونږ پرته له لدي چې خپلې تشي او منفی اړخ ارزونه او اصلاح وکړو هره خبره توجه او يا سازش بولو!

په دوکان او تجاري مرکز مو لويه لوحه د ماشاءالله ليکلي وي ليکن همدا خپل دوکان او تجاري مرکز د لمانځه ادا کولو په خاطر د غل د ويري خلاص نشو پريخوداي!

مجبور يو چي د الله تعالی ته د سجدې په وخت کي هم د هغه په کور کي خپلو بوټانو څوکيدار هم خپله اوسو!

په عام بازار کي تيلفون په ويره استعمالوو چې څوک مو تري خلاص نه کړي!

په ټول هيواد کې د څوک الله تعالی شاهد او ناظر وګڼي او دا شهادت د ورکړي چې آيا په مکمل ډول کومه پاکه او بي رشوته ملي اداره لرو.؟

د خپلو معلوماتو په اساس الله تعالی شاهد او ناظر وګڼي او خپله قضاوت وکړي چې ايا ملي عوايد چې ملي ملکيت دی څرنګه استعماليږي ؟ آيا تاسو پري قناعت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

آيـا داسـي يـو دواخانـه او شـفاخانه بـه ومونـدل شـي چـې بـي کيفيتـه دوا ونـه لري!

آيا په هره اداره کي اقربا پروري ، انډيواليزم او سمت پروري نشته!

آيا د مخصوصي طبقي لپاره يو قانون او نورو بل قانون نشته؟

آيا هر ځاي کي د مسلمانانو توهين ، تحقير او ذلالت نشته ؟

پرتـه لـه اسـتثني مـونږ هميشـه د فتوحـاتو خبـره کـوو لـيکن آيـا يـو افغـان تـر اوسه ځان او خپل نفس فتح کړي؟

بس مونږ ځان دوکه کوو .......

الله تعالى دي لمړي ما ته هدايت وکړي!!

## تر سبا به ژوندی يي :

عمـر بـن عبـدالعزيز رحمـة الله عليـه پـه خپلـه بسـتره کـي د خـوب لپـاره پريوت.

ځوي يي عبدالملک کوټې ته ننوت او ورته وويل : پلاره څه کوي؟

پـلار يـي ورتـه وويـل: سـتړي شـوي يـم بـدن کـي مـي نـور زور نشـته ويـده کيږم....

عبـدالمالک ورتـه وويـل: آيـا د مظلومـو خلکـو آواز اوريـدني پرتـه ويـده کيـږي؟ د هغـوي خلکـو مالونـه چـي پـه ظلـم تـري اخيسـتل شـوي هغـه بـه څـوک ورته بيرته ورګرځوي ؟

عمـر بـن عبـدالعزيز رحمـة الله عليـه ورتـه وويـل: ځويـه سـتا مامـا خليفـه سـليمان د مړينـې لـه املـه تيـره شـپه ويښ وم سـتړيا او بـي خـوبي مـي لـه جسـم نـه قـوت اخيسـتي لـږ څـه آرام کـوم د غرمـي لمـونځ د خلکـو سـره کـوم او د مظلومانو فرياد ته به رسيدګي وکړم.

ځـوي يـي عبـدالملک ورتـه وويـل: څـوک ضـمانت کـوي چـې تـه بـه تـر غرمـي ژوندي يي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځوي دغي خبري سره يو ځل د خپل ځايه وچت شو له سترګو خوب والوت او په لوړ آواز يي وژړل ،بيا خپل ځوي بشکل کړ او د جومات لوري ته په چټکی په ژړا ژړا روان شو .... او د خلکو عريضو اوريدنه او احکام ورکول يي پيل کړل..

ځينو نظامونو کي د مظلوم فرياد نه اوريدل کيږي د کلونو کلونو تيرولو وروسته بيا هم په خپلو وينو کي پدي خبره ځانونه خلاصوي چي دا به راتلونکی کي اصلاح شي او وخت غواړي ! په داسي حال کي چي اکثريت دغه ډول خلک چي څرګندوني کوي د عام مظلوم له پاره خپله دروازه هم بنده وي او يواځي يواځي يوه ډله ځانګړو خلکو د ننوتلو لپاره يي بيا سل دروازي خلاصي وي....

داسي فکر کوي چي عام مظلوم فرياد اوريدني لپاره الله تعالی دوي ته مهلت ورکوي او فرياد اوريدني پوري به راتلونکي کلونه هم دوي ژوندي وي او عام مظلوم بايد د انصاف او عدالت لپاره انتظار وباسي.......

### مطالعه به مو د سيالانو سيال کړي:

په انګلستان کي 80 لکه خلک کتابتونونو ته ورځئ او له هغه ځايه کتابونه اخلي ، د انګلستان په کتابتونونو کي 92 ميليونه کتابونه شتون لری ، د برطانيي شپيته فيصده خلک د کتابتونونو ممبر شپ لري . هر کال 8 زرو څخه زيات نوي کتابونه په کتابخانو کي زياتيږي..

علم دوست قومونه په علم مصرف کوي او له همدی امله په نړي بيا راج او حکومت هم کوي او د علم په واسطه دا ټول مصرف په سلګونو اندازه ګټه بيرته خپل هيواد راګرځوي..

علم په کتابونو کي بند وي او پدي معامله کي زمونږ عقلونه د تل لپاره بند دی او خلاصون درک يي هم نشه!

د کومو قومونو چي علم ترجيح وي عظمت خپله هغه لوري ته منډي وهی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـــن د تـــورو ، نیـــزو او اســـپو دوران تیـــر شـــوي اوس د ډرون، ایټمـــي او بیـــالوژیکي بمونـــو، بالســـتیک توغنـــدیو او ارټیفیشـــل انټیلـــي جـــنس دوره ده چـــې دا ټول پرته له علمه امکان نلري.

هغـــو پـــه خپلـــو هیوادونـــو کـــې د کتـــابتونونو مـــنظم تـــرویج پـــه ســـلګونو ملیونـــه بودیجـــه مصـــرفوي او زمـــونږ پـــه هیـــواد کـــې خـــو لا کاربـــار پـــه ورکیـــدو دي ، هغـــوي پـــه چټکـــې لګیـــا دي پوهنتونونـــه او تحقیقـــاتي مرکزونـــه جـــوړوي او ارتقا ورکوي او مونږ لا پدی کي نښتي یو چې دنیوي علم ښه او که بد ؟

نتیجـــه بـــه دا وي چـــې د هغـــوي بـــه شـــني لختـــي وي او زمـــونږ بـــه ورتـــه لـــوښ بدنونه!

یونیســـکو د هیـــومن ډیوپلپمنـــټ 2003 راپـــور پـــه اســـاس یـــو مســـلمان پـــه کـــال کـــې پـــه اوســـط ډول یـــو کتـــاب مطالعـــه کـــوي او یـــو اروپـــایي پـــه کـــال کـــې پـــه اوســـط ډول 32 کتابونـــه مطالعـــه کـــوي او یـــو اســـراییلي پـــه کـــال کـــې پـــه اوســـط ډول څلویښت کتابونه مطالعه کوي...

د عـــرب ټهـــاټ فاونډیشـــن د کلچـــرل ډیوپلپمنـــټ څـــانګې د راپـــور پـــه اســـاس پـــه 2011 کـــال پـــدي اړه مســـلمانانو تـــه شـــرموونکي کـــال وو... پـــدي کـــال کـــې یـــو مســـلمان او عـــرب پـــه کـــال کـــې پـــه اوســـط ډول شـــپږ دقیقـــې مطالعـــه کـــړي او یـــو اروپایي په اوسط ډول دوه سوه ساعته مطالعه کړي..

مـــونږ مســـلمانان داســـې فکـــر کـــوه چـــې نـــور زمـــونږ پـــه وړانـــدې سازشـــونه کـــوي او پـــدي مـــو ځانونـــه تلقـــین کـــړي او حاکمـــانو هـــم د ځـــانونو د ناکـــامیو پټـــوني ښـــه بهانـــه مونـــدلي لـــیکن مـــونږ ټـــول پـــه اصـــل کـــې د ځـــان پـــر وړانـــدې ســـازش کونکي یو.....

## اخلاقي اسلوب:

د بخښـــني غوښـــتلو پـــر مهـــال اخلاقـــي اســـلوب تـــه ډیـــر پـــام کـــوي ځکـــه د زخـــم څخه د غشي ویستل د هغه ګوزارونه څخه ډیر درد لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ږوند عقیدت:**

په 1970 میلادي کال کې چې هغه مهال په اندونیزیا کې د صدر سوهارتو حکومت وو:

اندونېزیایي یوه ښځه چې ،، زهره فونا ،، نومیده د حضرت مهدي د مور دعوه یي وکړه . ویل یي چې د هغي په رحم کې موجود ماشوم حضرت مهدي دي..

او دا ځکه چې کله به دغي ښځي خیټي ته نږدي چا غوږ ونیوه له هغه ځایه به د قران کریم تلاوت او آذان اوریدل کیده

دا خبر په ټوله اندونیزیا کي لکه د ځنګل د اور خپور شو..

کله چې دا خبر حکومتي چارواکو ته ورسید د اندونېزیا مرستیال جمهور رئیس آدم مالک ،، زهره فونا،، خپل کور ته دعوت کړه او ملاقات دوران کی چې کله آدم مالک د هغي خیټي ته غوږ ونیوه آزان او تلاوت یي واریده نو هغه هم تایید او تصدیق کړه....

د هغه ورسته د اندونېزیا د مذهبي چارو وزیر محمد ډیچلن هم آزان واورید او خپله خپره شوي وینا کې وویل ؛ څرنګه چې امام شافعي دري کاله د خپل مور رحم کې موجود وو او امکان یي درلود نو امام مهدی څرنګه نشي کولای چې د مور د رحم څخه آزان وکړي؟

لدې وروسته د اندونېزیا حکومتي چارواکو او خلکو قطارونه د زهره فونا د ملاقات لپاره هره ورځ معمول جوړ شو..

خپله ریس جمهور سوهارتو او میرمن یي هم د زهره فونا سره ملاقات وکړ...

خلکو زهره فونا ته د حضرت مریم ثاني لقب ورکړ او د هغي شهرت په ټوله اسلامي نړي کې خپور شو... او هر هیواد علماوو د تصدیق لپاره هغي ته دعوتونه ولیږل چې له دغو هیوادونو ملایانو او خلکو کې پاکستان هم وو .. زهره فونا هم دعوت قبول کړ او پاکستان ته راغله...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان کې هغه مهال د صدر يحيي خان فوځي حکومت وو او پايتخت هم هغه مهال کراچۍ ښار وو..

کله چي زهره فونا کراچۍ ته راورسېد دروند استقبال يي وشو..

مولانا احترام الحق تهانوي او مولانا شفيع اوکاړوي د هغي د خيټي څخه آذان او تلاوت واوريد او بيا تاييد کړه چي واقعا دا آواز له خيټي څخه دي او د حضرت امام مهدی تصديق يي هم وکړ...

دغه علماوو تحقيقات شايد يواځې د آواز اوريدني پوري وو، هغه مهال د راډيو او ټلويزيون هم موجود وو او علماوو پيژنده ليکن ټيپ رکارډر دومره عام نه وو يواځې د ځينو اشرافيوو او معتبرو خلکو کور کي به موجود وو..

او دا تحقيق نه يواځې د پاکستان علماوو سره نه وو بلکې اندونېزيا علماء هم تري قاصر ول...

په کراچي ښار کي د مختلفو مسلکونو تر پنځه لکو خلکو د زهرا فونا د امامت پر اقتدا د جمعي لمونځ سعادت هم حاصل کړ...

د ټولو څخه حيرانوونکي او له خندا صحنه خو دا وه چي دغي ښځي د کعبې لوري ته مخ کړ او د لوډسپيکر مايک يي ورته خيټي ته برابر کړ او د علماوو او مشايخو په شمول په لکونو خلقو د امام مهدی پسي د جمعي لمونځ وکړ...

او عملاً ټولو د سورت الحجرات دغه مبارک آيات له پامه وغورځاوو چي مسلمانان يي د هر خبر په اړه له باور مخکي په تحقيق مکلف کړي دي

بلاخره د کراچۍ ښار يو شمېر مسلمانو ډاکټرانو مخالفت وکړ او زهره فونا د تالاشي او ملاقات غوښتنه وکړه .

ليکن زهره فونا مسلسل د ملاقات او تالاشي څخه انکار کاوو مګر يوه ورځ د ډاوو ميډيکل کالج ډاکټران بريالی شول او له تلاشۍ وروسته يي د هغي د پښو تر منځ يو پټ ټيپ رکارډر وموندل شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغــه د پاکســتان څخــه پــه تیښــته بریــالي او انــدونیزیا تــه لاړه هلتــه ونیــول شــوه او پــه زنــدان کــي واچــول شــوه ، هغــي اقــرار وکــړ چــې د هــر څــه یــي د پیســو او شهرت لپاره کول...

ورونو: ړوند عقیدت او ړوند تقلید او باور بدترینه پدیده ده...

لــه څــو مــودې راهیســي پاکســتان کــي یــو شــمېر مــذهبي ګونــدونو پلویــان او همدارنګــه زمــونږ هیــواد کــي یــو شــمېر متصــوفین ګــورو چــې عجیــب او غریبي څرګندوني کوي او بیا پلویان یي پري یقین هم کوي..

پاکســتان کــي ډیــر شــمیر ملایــان د انتخابــاتو وخــت کــي د رســول الله صــلی الله علیــه وسـلم د خــوب لیــدني دعــوه کــوي چــې مولانــا تــه رایــه ورکــول ورتــه نفــوذ بالله په خوب کي رسول الله ویلي...

زمــونږ د پیرانیــانو مریــدان هــم د خپــل پیــر او مســلکي مشــر پــه اړه ورتــه مختلف خوبونه ویني....

چــي اصــل دغــه ډول درواغ لویــه فتنــه اولــوي بهتــان پــه رســول الله صــلی الله علیه دي.. العیاذ بالله..

بس الله تعالی نور په مونږ رحم وکړي....

**موږ صاحب قول یو دوی صاحب فعل :**

کلــه چــي د امریکــا ریــس جمهــور ټرمــپ ســعودي تــه وویــل: زمــونږ لــه مرســتي پرتــه ستاســو حکومــت دوه هفتــي هــم نشــي چلیــداي! هغــه مهــال پــه ســعودي کــي د یو اوښ لپاره د 16 ملیونو ریالو په قیمت د سرو زرو هار واچول شو!

مســـلمانانو حکمرانـــانو لپـــاره څـــومره ویرونکـــي او دردونکـــی منظـــر هغـــه یادونـــه دي چـــې کلـــه عباســـي خلیفـــه معتصـــم پـــه داســـې حـــال کـــي چنګیزخـــان لمســـی هلاکــو خـــان تــه راوســتل شــو چــي لاســونو او پښــو تــه یــي ځنځیرونــه اچول شوي ول....

کلــه چــي خــوراک وخــت ورســید - خپلــه هلاکــو تــه پــه ســاده لوښــي کــه خــوراک وړانـــدې شـــو او خلیفـــه تـــه د ســـرو زرو لوښـــي کـــي جـــواهرات او ســـره زر کیښنول شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلاکو خان ورته وویل: وخوره هغه سره زر او جواهرات چې تا سره ول!

د بغداد شاهنشاه او تاجدار په ډېره بې وسي وویل: سره زر څرنګه وخورم؟

هلاکو خان: نو بیا تا ولې دا جواهرات او سره زر جمع کړي ول؟ مسلمانانو ته خو د هغوي دین وایي چې توري، طاقت او اسپې ولري،

هیڅ ډول ځواب ورنکړ شو.....

هلاکو خان د ماڼي وسپنیزو دروازو او کړکیو ته مخ واړوه او ورته وویل: تا له دغو وسپونو نه ولې توري او تیرونه جوړ نه کړل ؟ تا ولې د جواهراتو جمع کولو پر ځاي دا پیسې په خپل فوځ نه مصرفولي چې په جانبازي سره یي زما مقابله کړي واي؟

خلیفه ځواب ورکړ او وویل: دا به د الله تعالی رضا وه!

هلاکو خان ورته په امرنه لهجه وویل: چي تا سره اوس څه کیږي هغه به هم د الله تعالی رضا وي!

هلاکو خان بیا خلیفه په مخصوص سادر کي تاو کړ او اسپي پري وزغلولي ترڅو چې بلي نړي ته رخصت شو.

بیا هلاکو بغداد ښار ماڼي د خاورو سره برابرې کړي، شل لکه مسلمانان یي قتل کړل ، د شپږ سو کالو علمي ذخیره چي ملینونه کتابونه ول دجلي سیند خوراک کړل چي څو ورځې د دجلي سیند اوبه رنګ هم تغیر شو..

تاریخ یوائې د فتوحاتو یادونه کوي!

- ✓ محلونو
- ✓ لباس
- ✓ خوراک
- ✓ جواهرات

او ډول ډول عیاشي او بد مستي نه شمیري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور د ختو او خوراک یې کجوري وي لیکن دیوال ته یي د وخت تر ټولو ښه توره ځوړنده وه!

راځي لږ فکر وکړو......!

کله چې اروپا په هره سیمه کې د تحقیقاتو ، څیړنو ، علومو مرکزونه جوړیدل د اسلامي نړۍ تر ټولو لوي مغلو سلطنت کې شاهنشاه د سلطنت د څو کلني بودیجې په مصرف خپلې مړې محبوبې ته د وفادارۍ په نامه تاج محل جوړاوه!

په دغه دوران کې د برطانیې شاهنشاه ګرانه میرمن د ماشوم زیږیدنې پر مهال وفات شوه، شهنشاه په بدل کنګ ایډورډ میډیکل کالج بنیاد کیښود.

کله چې مغرب په علومو او فنونو کې ارتقا کوله دلته زمونږ اسلامي نړې په سلطنت کې د تان سین سندریز راګ ایجاد شو چې سندر غاړو او پرکشش رقاصو به په درباورنو غږولي!

د انګریزانو ، فرانسویانو او پرتګالیانو پوځونو او بیړې چې اسلامي هیوادونه سرحدونو کې ولاړې وي لیکن زمونږ حاکمان په عیش عشرت مصروف ول او مذهبي مشران په مناظرو او اختلافاتو..

تاریخ دغې خبرې سره هیڅ غرض نلري چې حکمران دربار څومره ښکلی دي ، څومره رش لري ؟ په تاج کې هیره شته او که نه ؟ یا ګاډي زریع دي او که نه ؟ د دنیا د کومې کمپنۍ دي ؟ ارزانه دي که قیمته ؟

په دربار کې چاپلوسان څومره دي؟ مفاد پرست او فرصت طلب څومره دي؟ باډګي ګارډان او قطارونه څومره دي؟

تاریخ یواځې کامیابیو سره غرض وي او تاریخ هیڅکله عذر نه قبلوي!

زمونږ د اسلامي نړې د ژوند اکسیجن یواځې او یواځې هر اړخیزه علمي ارتقا او وحدت دي د هغې تشې له امله چې نن ذلیل یو ..

په تاریخ کې ډیر ځلې داسې وي چې د پرون فاتحین د خپل غرور ، تنګ نظریو او بد کردار له امله د سبا ذلیل او ملعون وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هســـي دي پـــوري رايـــاده شـــوه چـــې زمـــونږ خليجـــي هېوادونـــه د خپـــل راتلـــونکي اقتصـــاد لپـــاره دنيـــا تـــه د مـــاډرن VIPژونـــد مـــاډل وړانـــدې کولـــو پـــه تســـابق کـــي دي او د ټوپک تر يوي مرمي بيا له غرب څخه په پيسو اخلي....

لانـــدي عکـــس د مغـــل عظـــيم ســـلطنت اخرنـــی مســـلمان شاهنشـــاه بهـــادر شـــاه ظفـــر دې چـــې د انګريزانـــو د يـــوه وړوکـــی صـــاحب منصـــب د حيوانـــاتو پـــه ګيـــراج کي بندي او هلته په 7 د نومبر 1862 کي ومړ..

د يو داسي ورځي په هيله چي مسلمان بيا پکې غالب او کفر مغلوب وي!!!

پای.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**